

Ketabton.com

# الرسالہ

Al-Risala

اپریل، ۲۰۲۶ء

ketabton.com - The Digital Library

# الرسالة

Al-Risala

## اپریل ، ۲۰۲۵ز

مولانا وحیدالدین خان

(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کریم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې څخه رااخیستل شوې ده.)

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| اسلام هماغه دی... | ۱۰ |
| دوه دنیاوې | ۱۵ |
| لنډې، لنډې | ۲۰ |
| د ژوند دوه مخونه | ۲۸ |
| د ديني تحريک اصلي مقصد | ۲۹ |
| د تنقيد يو قسم | ۳۱ |
| د حلف الفضول په باره کې | ۳۴ |
| په دې منطق خو.. | ۳۷ |
| د اسلام دعوتي تګلاره | ۴۰ |


او نور ډېر څه...

ketabton.com - The Digital Library

## د قیامت زلزله ډېره بوږنوونکې ده

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ. يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُم بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ.

ژباړه: اې خلکو د خپل رب له عذابه ځان وساتئ، د قيامت زلزله بې شکه يو لوی شی دی. کومه ورځ چې تاسو يې ووينئ چې هر تی ورکونکې له خپل تي رودي (ماشوم) نه غافله شي، هره حامله خپل حمل وغورځوي او خلک بې هوشه ووينې، حال دا چې هغوی به نشه نه وي، خو د الله عذاب به (ډېر داسې) سخت وي.

(حج: ۱-۲)

★

سوال: لوی ماهي به ترکله کوچنی ماهي تر ستوني تېروي؟

ځواب: تر څو چې کوچنی ماهي ځان دومره ستر نه کړي، چې د لوی ماهي په خوله کې رانه شي.

★

د پوهنتون استاد وويل، «ژوند يوازې يو ځل راکول کېږي، ما ليسانس وکړ او دنده مې واخيسته. ماسټري مې ونه کړه. اوس دومره غوره فرصتونه مخې ته راځي، خو زه يوازې د دې لپاره له دې فرصتونو محروم يم، چې د ماسټری سند نه لرم.» ———
همدا انجام به په لويه کچه په اخرت کې هم ښکاره شي. د هر انسان په وړاندې به عاليشانه فرصتونه وي، خو بنده به ورنه محروم وي، ځکه ده به د هغو فرصتونو لپاره په ژوند کې تياری نه وي کړی. »

★

ketabton.com - The Digital Library

★

جبير بن نفير د عوف بن مالك اشجعي په حواله رانقل کړي. دی وايي چې يوه ورځ موږ له نبي صلی الله عليه وسلم سره ناست و. نبي کريم ص اسمان ته سترګې پورته کړې او ويې فرمايل، هغه وخت نيږدې دی چې علم به پورته کړای شي. د انصارو له ډلې يوه تن وويل، چې نوم يې زياد بن لبيد و، اې د خدای رسوله! آيا له موږ نه به علم پورته کړای شي؟ حال دا چې زموږ په منځ کې د خدای کتاب موجود دی او موږ خپلو بچو او مېرمنو ته دغه کتاب ور زده کوو. نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل، چې ما خو ته د مدينې هوښيار سړی ګڼلې. آيا يهود او نصارا تورات او انجيل نه لولي؟ بيا هم هغوی په دې کتابونو باندې عمل نه دی کړی.

جبير بن نفير له شداد بن اوس سره وليدل. او هغه ته يې دغه حديث واوراوه. هغه وويل، عوف رښتيا ويلي دي. بيا شداد وويل: پوهېږې، د علم پورته کېدل څه وي؟ هغه وويل نه. شداد وويل، ياني دا چې د علم لوښی به لاړ شي. (**ذهاب اوعيته**). بيا شداد وويل: **هل تدری ای العلم يرفع، قال قالت لا ادری. قال الخشوع حتی لا يری خاشعا.**

آيا ته پوهېږې چې کوم علم به واخيستل شي؟ هغه وويل، نه. ويې فرمايل: خشوع به واخيستل شي، تر دې چې هېڅ خاشع بنده به دې ترسترګو نه شي.

هغه ډله چې د خدای کتاب ورسره وي، پر هغې چې کله ديني زوال راځي، نو داسې نه کېږي، چې د ديندارۍ ظاهري بڼې ورسره محو کېږي يا يې چرچه نه پاتې کېږي. په تاريخ کې هېڅ کله داسې نه دي شوي. د دوی زوال په اصل کې دا دی چې دين د قساوت په سطحه کې ورپاتې وي او د خشوع په سطحه کې ترې ختم شي (**حديد۱۶**). د خشوع ديندارۍ زړونو ته لاره کوي. حال دا چې د قساوت ديندارۍ صرف اندامونه او اعضاء لمسوي، د شعور برخه نه وي او د بنده په دروني وجود کې اور نه بلوي.

په کتاب لرونکي قوم دغه زوال هغه وخت راځي چې د خدای دين يو «فن» ګرځول شوی وي. فن دې ته وايي، چې يو حقيقت د کچ او مېچ په ژبه کې بيان شي. خو دا چې دروني حقيقت د ناپ او تول په حصار کې نه راځي او مازې بعضي ظاهري اړخونه بيانولی شي، نو د همدې لپاره چې کله په يوه قوم کې دغه ډول فنون وغوړېږي، نو په ظاهري اړخونو بحث کوونکي د دين ماهرين خو ډېر ښه په کې پيدا کېږي، مګر داسې خلک په کې په نشت وي، چې د کيفيتونو له دين سره دې اشنا وي. په دې ډول هغه

ketabton.com - The Digital Library

عبادت چې د زړه د خوړلني نوم دی، د فقهي ناپ تول یو ظاهري عمل پاتې شي؛ هغه روحانیت چې د خدای او اخرت په سطحه د ژوند تېرولو نوم دی، د هغه د مقاماتو سفر د صوفیانه تمریناتو له لارې ترسره کېږي. هغه دعوت چې په اصل کې له بندګانو سره د خیرخواهي اظهار دی، د وینا و لیکوالي او مناظرو و لاریونونو حتی د ګډوډۍ او درز او غرب بڼه خپله کړي. او داسې نور.


د الهي کتاب خاونده ډله چې کله د قساوت سطحې ته راشي، نو د دې لپاره چې بېرته د خشوع سطحې ته راپورته کړای شي، د هغه یوازینی تدبیر دا دی چې دین له انساني ملاوټونو څخه پاک کړای شي. حقیقي دینداري د خدای او رسول د ښودلي دین له لارې راتللی شي، نه د انسانانو د وضع کړي دین له لارې.

★



ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم




شري تيج پال سينګ وويل، «د قرآن کريم لوست په انسان کې وېره پيدا کوي. په دې کتاب کې خو بس د اور او دوزخ خبرې دي.» دا د ډېلي د يوه تعليم‌يافته نامسلمان تاثرات دي. نوموړي د قرآن کريم هندي ترجمه لوستې وه او بيا يې په دسمبر ۱۹۷۷ کې ليکوال (مولانا) ته دغه خبرې وکړې. دا يو حقيقت دی، چې په قرآن کريم کې تر ټولو ډېر بيان د اخرت د عذاب راغلی دی. همدا د قرآن کريم د نزول مقصد ښودل شوی دی:

**وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لاَ رَيْبَ فِيهِ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ.** (**شورى ۷**)

ژباړه: او همدغسې مو تاته (دا) عربي قران وحي کړی دی، چې مرکزي کلی (مکه) او څوک چې شاوخوا يې دي، پرې ووېروې او د غونډېدو له ورځې يې ووېروې چې (هېڅ) شک په کې نشته (کله چې) يوه ډله په جنت کې او يوه (بله) ډله په دوزخ کې وي.

بيا بيا ځلې انسان په مختلفو اساليبو کې متوجه کړای شوی دی، چې ستا اصل مسئله د اخرت مسئله ده، نو د هغې ورځې له ګرفت نه ځان وژغوره.

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلاَئِكَةٌ غِلاَظٌ شِدَادٌ.** (**تحريم ۶**).

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپلخاني مو له هغه اور نه وساتئ چې خس و خاشاك يې انسانان او ډبرې دي، چې پر هغه به غوسه ناك، سخت زړي ملايکان (ولاړ) وي.

ټول انبياء د همدې لپاره راغلي چې خلکو ته د راتلونکې ورځې خبرداری ورکړي (**انعام ۱۳۰**) نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته چې د کوم دعوت د رسولو امر شوی و، د قرآن په ټکو کې هغه دا و:

**وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ.** (**مؤمن/غافر: ۱۸**)

ژباړه: او هغوی د نزدې راتلونکې ورځې نه ووېروه کله چې زړونه تر مرۍ راورسيږي (او دوی) له غمه ډک وي.

ketabton.com - The Digital Library

قریشو په مکي دور کې خپل یو هوښیار سردار عتبه بن ربیعه نبي صلی الله علیه وسلم ته واستوه چې خبرې ورسره وکړي او دا معلومه کړي چې د رسول الله پیغام څه دی. عتبه چې بېرته راغی او خپلو ملګرو ته یې کوم راپور ورکړ، د هغه الفاظ دا دي:

**ما فهمت شيئا مما قال غير انه انذركم صاعقة مثل صاعقة عاد و ثمود.**

ژباړه: رسول الله چې هر څه وویل، زه خو یې په یوه خبره هم پوه نه شوم، بس دومره پوه شوم، چې د عاد او ثمود په څېر له عذاب نه مو وېروي.

**الرساله** د همدغه احساس له مخې خپرېږي. د دې کتابچې د ټولو مضامینو موضوع اخرت ده. خو دغه رساله د نورو لیکنو په څېر نه ده ترتیب شوې، بلکې انداز یې د لنډو ټوټو او افکارو غوندې دی. هغه څه چې دې رسالې ته د مسلسل کتاب حیثیت ورکوي، هغه دا ده چې هره پاڼه یې د اخرت د موضوع خبرداری دی. په دې رساله کې له بېلابېلو اړخونو د هغې درنې مسئلې د رابرسېره کولو هڅه شوې ده، چې **له مرګ وروسته هر انسان ورسره مخ کېدونکی دی.**

(وحیدالدین ، ۱۵ می ۱۹۷۸)

★★★



ketabton.com - The Digital Library



# اسلام هماغه دی چې د زلزلې غوندې دې ژوند ته درننوځي

د اوسني زمانې بعضي الحادي مفکرینو ولیدل، چې انسان په هېڅ طریقه هم نه راضي کېږي چې له مذهب نه لاس په سر شي، نو دوی مذهب د یوې اړینې اروایي اړتیا په توګه تسلیم کړ. البته دا یې هم ورسره وویل، چې د مذهب بنیاد باید په خدایي الهام نه وي ایښودل شوی. د دې فکر په ملاتړ کې جولین هکسلې یو کتاب ولیکه چې نوم یې دی:

RELIGION WITHOUT REVELATION

(بې وحي مذهب)

دغه ډول اسلام خو تر اوسه پورې عملاً منځته نه دی راغلی. مګر د «بې اخرته اسلام» ګڼې نسخې زموږ په منځ کې دود شوې دي. په دې اسلام کې هر څه شته مګر د جهنم وېره نشته. د رسول الله اصحابو ته چې کوم اسلام رسېدلی و، هغه صحابه دومره ناکراره کړل، چې داسې ښکارېدل ګواکې د جهنم اور خاص د همدوی لپاره بل شوی دی. خو د اسلام مجاهدینو یو داسې اسلام کشف کړی دی، چې په خزانه کې یې یوازې جنت دی. جهنم یې په خوا کې هم نه دی تېر شوی.

د ځینو خلکو لپاره د دنیا کامیابي د دې خبرې یقیني علامه ده، چې اخرت به یې هم ارومرو کامیاب وي. ځینو خلکو داسې ژوندي یا مړه بزرګان پیدا کړي دي چې د هغوی له لاسنیوي وروسته د دوی لپاره د اخرت هېڅ اندېښنه نشته. ځینې خلک بیا دومره خوشبخته دي، چې په معمولي خبرو شپه او ورځ د هغوی لپاره جنت کې ماڼۍ په نوم کېږي، نو بیا هغوی له اخرت نه وېرېدو ته څه اړتیا لري؟ ځینو خلکو ته اسلام عالیشانه سیاسي طرحې ورپېرزو کړې او هغوی د رهبرانه امتیازاتو په سیوري کې د جنت لاره لنډوي. ځینو خلکو له دې نه هم اسانه لاره پیدا کړې ده ـــــ په ځلبلو تالارونو کې د ویناوالۍ کرشمې ښکاره کړئ او سیده جنت الفردوس ورسېږئ.

ketabton.com - The Digital Library

دغه ډول اسلام که هر څومره زړه راښکونکی ښکاري، خو په اخرت کې به یې هېڅ قیمت نه وي. په اخرت کې به هغه اسلام په کار راځي، چې د انسان په ژوند کې د زلزلې غوندې ننوځي. هغه اسلام چې د قیامت له زلزلې دمخه د بنده لپاره زلزله ثابت شي. دغه ډول اسلام بنده هغه وخت مومي، چې د ده لپاره هره مسئله د خدای مسئله وګرځي. د «واړه» بې عزته کول داسې ورته معلومه شي ګواکې د رب العالمین سفیر یې بې عزته کړی دی. «لوی» ته د چاپلوسي په وخت کې دا احساس ورته ودرېږي ګواکې د خدای غیرت یې ننګولی دی. د حق له روښانېدو وروسته د هغه له پامه غورځول ورته داسې شي، لکه یو شخص چې جنت او جهنم په خلاصو سترګو ګوري، مګر بیا هم جنت پرېږدي او جهنم ته ور غورځار شي.

★★★

# دعا د انسان له ټول وجوده څرګندېږي، نه مازې د ژبې په کلمو کې



حضرت مسیح په خپل یوه وعظ کې وفرمایل «وغواړئ او در به کړی شئ. ویې لټوئ، وبه یې مومئ. دروازه ودبوئ، نو درته وازه به شي. ځکه هغه چې غواړي یې ورکول کېږي. او هغه چې لټوي یې، مومي یې، او هغه چې ډبوي یې، ورته وازېږي. په تاسې کې داسې څوک دی، چې زوی یې ډوډۍ ورنه وغواړي او دی تیږه ورکړي. یا ماهي وغواړي، او مار ورکړي. نو تاسې چې بدان یاستئ او خپلو اولادونو ته ښه شیان ورکول مو زده دي، نو ستاسې پلار، چې په اسمانونو کې دی، هغه به خپلو غوښتونکو ته ولې ښه څیزونه نه ورکوي.» (متی ۷: ۲-۱۲)

دا یو حقیقت دی، چې له خدای نه غوښتونکی هېڅ کله محروم نه پاتې کېږي. خو غوښتل مازې د څو کلمو تکرار نه دی. هغه غوښتل، غوښتل دي، چې د بنده ټول وجود په کې شامل شوی وي. یو شخص په ژبه وایي، «اې خدایه ما د

ketabton.com - The Digital Library

ځان کړه.» خو عملاً دی د خپل ځان وي، نو دا د دې خبرې ثبوت دی، چې ده هېڅ هم نه دي غوښتي. ده ته



چې کوم څه ورکول شوي دي، په اصل کې ده هماغه له خدای نه غوښتي و. فرق نه کوي، چې په ژبه يې هر ډول کلمات ويلي وي.

يو زوی له خپلې مور نه ډوډۍ وغواړي، نو دا ناشونې ده چې مور دې يې په لاس کې سکروټه ور کېږدي. خدای په خپلو بندګانو له ټولو مهربانو څخه ډېر مهربان دی. دا ممکنه نه ده چې تاسې له خدای نه خشيت (وېره) وغواړئ او هغه تاسې ته قساوت (سختي) درکړي. تاسې د خدای ياد وغواړئ او هغه دې تاسې په خدای‌هېرونه کې مبتلا کړي. تاسې د اخرت مينه وغواړئ او هغه دې ستاسې په زړه کې د دنيا مينه واچوي. تاسې له کيفيت نه سرشاره دينداري وغواړئ او هغه دې تاسې په بې روحه دينداري کې پرېږدي. تاسې حق پرستي وغواړئ او هغه دې تاسې د شخصيت پرستي په کوټنۍ کې زنداني کړي.

په خپل ژوند کې له تاسې سره ستاسې د مطلوب شي نشتوالی د دې ثبوت دی، چې تاسې تر اوسه پورې هغه شی هېڅ غوښتی نه دی. که تاسې شيدې پېرل غواړئ او له غلبېل سره بازار ته ووځئ، نو له پيسو لګولو وروسته به هم تش لاس بېرته کور ته راستنېږئ. دغه راز که تاسې په ژبه د دعا کلمې تکراروئ خو اصل وجود مو بل شي ته متوجه وي، نو دا خبره کول به صحيح وي، چې نه تاسې غوښتي و او نه مو ترلاسه کړل. څوک يې چې غواړي هېڅ کله بې موندلو نه پاتې کېږي. دا د کايناتو د څښتن له غيرت سره خلاف دی، چې هغه دې بنده په هغه حال کې پرېږدي چې کله د قيامت په ورځ له خدای سره مخامخ شي، نو خپل رب ته د حسرت په سترګو وګوري او ووايي چې «خدايه! ما له تانه يو څه غوښتي و، خو تا رانه کړل.» په خدای، دا ناشونې ده، ناشونې ده، ناشونې ده. د کايناتو واکمن خو هر سهار او ماښوم له خپلو ټولو خزانو سره ستاسې خواته راځي او اواز درته کوي ـــــ «څوک شته چې له ما يې وغواړي، او زه يې ورکړم.» خو هغوی چې پکار يې دي، رانده او کاڼه پراته دي، نو په دې کې د لوروونکي څه ګناه ده؟

له مورې نه هر شخص د ژوند په پرتله مرګ ته ډېر ور نيږدې دی.

که په سرې کې دغه احساس ژوندی وي، نو هر مرګ به د ځان مرګ ګڼي.

د نورو جنازه به داسې ورته ښکاري ته وا په خپله د ده جسد په اوږو شوی او قبر ته لېږدول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# خو چیغو یې ځای ونه نیوه!

بحري بېړۍ له غره سره ټکر شوه، خاشه خاشه شوه،

د بېړۍ ماتو تختو د سمندر په څپو باندې لامبو وهله.

لسګونه مسافر د خپل منزل په ځای د سمندر تل ته رسېدلي وو،

او د بېړۍ کپتان په یوه تخته پورې ځان تم کړی و او چیغې یې وهلې:

څومره بې رحمه دی هغه ځواک چې په سمندر کې یې غر راپورته کړی دی،

څومره ظالم دی هغه حکومت چې دلته یې د رڼا میناره نه ده ودانه کړې،

څومره مجرم دي هغه بېړۍ جوړوونکي چې بېړۍ یې ضدِ حادثه نه ده جوړه کړې.

هغه چیغې وهلې، وهلې، وهلې...

خو هېڅ اورېدونکي غوږونه نه وو چې د ده چیغې واوري،

د ده اواز په فضا کې حل کېده،

تر دې چې دی هم له نورو ملګرو سره په سمندر کې غرق شو،

د ده چیغو نه ده ته ګټه وکړه، نه نورو ته.

ketabton.com - The Digital Library

★

په ۱۷۷۵ کې د اروپا په یوه ښار کې ډېره ویجاړوونکې زلزله پېښه وشوه. څو ورځې وروسته خلکو ولیدل چې یوه سړي د زلزلې ضد ګولۍ (Anti-Earthquake Pill) خرڅلاو ته ایښې دي او چیغې ورسره وهي. یو چا ورنه وپوښتل، ستا دغه ګولۍ به د زلزلې مخه څرنګه نیسي؟ هغه سړي سمدستي ځواب ورکړ: نو بیا یې بدیله لاره څه ده؟

د زلزلې ضدګولیو یاد تجارت خو پرمختګ ونه کړ، بلکې مازې یوه ټوکه وګرځېده. خو عجیبه خبره ده چې د تر ټولو سترې زلزلې (اخروي زلزلې) لپاره هم خلکو همدغسې ګولۍ ایجاد کړې دي او په ډېره لویه کچه یې په ټوله دنیا کې تجارت روان دی.

د زلزلې ضدګولیو یو لوی مبلغ لیکي:

«د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې دوه خصلتونه داسې دي چې یو مسلمان یې ور خپل کړي، نو جنت به ته ننوځي او هغه دواړه ډېر معمولي شیان دي، خو په هغو عمل کوونکي ډېر کم دي. یو دا چې سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر له هر لمانځه وروسته لس، لس ځله ولولئ، نو هره ورځ (د پنځو لمنځونو مجموعه) به ۱۵۰ ځله شي او چې اجر یې لس چنده حساب شي، نو په اعمالنامه کې به ۱۵۰۰ نېکیانې ولیکل شي. او دوهم شی دا دی، چې له خوب نه مخکې ۳۴ ځله الله اکبر، ۳۳ ځله الحمدلله، ۳۳ ځله سبحان الله ولولئ، نو ۱۰۰ کلمې پوره کېږي او چې ثواب یې لس چنده زیات شي، نو زر نېکۍ کېږي. اوس د دې او د ټولې ورځې د لمنځونو میزان چې وکړو، دوه زره او پنځه سوه نېکۍ شوې. نو د اعمالو د تللو په وخت کې به د ورځې دوه نیم زره ګناهونه د چا وي، چې په دې نېکیو غلبه وکړي. » (۱۳۳) په یوه حدیث کې نبوي ارشاد دی چې له تاسې نه دې هېڅ شخص دا کار نه پرېږدي چې هره ورځ زر نېکۍ وکړي. سبحان الله وبحمده دې سل ځله لولي. (چې لس چنده شي) زر نېکۍ به شي. دومره ګناهونه خو به ان شاءالله هره ورځ د هیچا هم نه وي. له دې تسبیح نه علاوه چې څومره نېک کارونه وي، د هغو ثواب به الایده ګټه وي.» (۱۳٦)

که د مغفرت معامله دغه ډول ساده د حساب مسئله وای، نو د صحابوو به دا حال نه و، چې د اخرت له وېرې دې ناکراره وای او دا دې یې ویلي چې کاش زه خلې وای، کاش زه ونه وای چې غوڅه شوې وای.

دغه ډول عجیب او غریب اسلام ځکه راپیدا شو، چې ذکر د کلماتو تکرار سره هممعنا وپېژندل شو. په دې سره ګناه او ثواب دواړه د شمېر شیان شول او دا ممکنه شوه چې په یوه شمېر کې کمی په بل شمېر کې له زیاتوالي سره برابر کړای شي. خو حقیقت دا دی چې ذکر دغسې د شمېر شی نه دی. ذکر د خپل شعوري وجود نذرانه ده. بنده چې کله خپل رب د هغه له ټولو عظمتونو سره وموميي، نو ټول وجود یې د هغه په یادونو کې غرق شي. د همدې نوم ذکر دی. دغه ذکر په بنده کې قناعت یا بې خوفي نه پیدا کوي، بلکې بنده له وېرې او ترهې نه ډکوي. د خدای د جلال او جبروت یاد چې په چا کې د بې خوفي ذهنیت پیدا کړي، هغه هېڅ خدای یاد کړی نه دی. ځکه خو په قرآن کریم کې ویل شوي دي چې کله بنده خدای یادوي، نو پایله یې دا وي، چې بې اختیاره یې له خولې ووځي: خدایه مور د اور له عذابه وژغورې. **فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ**. (آل عمران)

ketabton.com - The Digital Library



★

# آیا د خدای په دواړو دنیاوو کې تضاد دی؟

«د انسانانو له دنیا لرې د خدای دنیا څومره ښکلې ده.» زما له خولې ووتل. زه په یوه غونډۍ ولاړ وم. د طبیعت آفاقي منظرې زما د سترګو په وړاندې وې. «آیا د خدای په دواړوو دنیاوو کې تضاد دی. نور کاینات خدای په ډېرو ټینګو بنیادونو درولی دی. خو له انسانانو نه غواړي، چې د کراماتو یوه مرموزه دنیا جوړه کړي او خپلې طلسماتي کارنامې په کې ښکاره کړي. خدای د چینار یا سروې یوه ونه چې لویوي، نو سل کلنه هر اړخیزه طرحه ورته جوړوي. خو له خپلو بندګانو غواړي، چې د نعرو او ویناوو توپان راولاړ کړي او د سترګو په رپ کې حالات بدل کړي. په کایناتي کارخونه کې په هره خوا کې د ګټې او منفعت رسونې سېلاب په څپو دی. خو د کاینات څښتن له خپلو بندګانو غواړي، چې هغوی دې نورو ته په «زیان رسونه» کې کمال ښکاره کړي او د غوره امت ټایټل دې ترلاسه کړي. د ستورو او سیارو په دنیا کې خدای هره شیبه متحرک دی. مګر په مدرسو او خانقاوو کې په تقلید او جمود باندې راضي شوی دی. په ګلونو او پاڼو کې یې د خوش ذوقۍ سیندونه بهولي دي. د هوا په څپو او د اوبو په رودونو کې یې د لطافت خزانې روانې کړې دي. د اسمان په وسعتونو او د غرونو په هسکو کې د خاموشو عظمتونه نندارې وړاندې کوي. مګر له انسانانو نه ورته دا مطلوب دي، چې د خرو او کارغانو غوندې چیغې ووهي او د مظاهرو او مطالبو غوغاوې راولاړې کړي. له شنو سرسبزو ونو نه تر شنه اسمانه پورې په هره خوا کې بې بها حکمت تر سترګو کېږي. هر ځای خورا بامعنا فعالیتونه روان دي. خو له بندګانو نه خدای په داسې عبادتونو راضي دی، چې په هغو کې د یو څو میخانیکي کلماتو په ادا کولو لوی، لوی مقامات وهل کېږي او عالیشانه جنتونه ورباندې حاصلېږي.

د کاینات په سطحه چې وګورئ، نو داسې ښکاري چې د خدای دنیا د هغو ګلونو لپاره ده چې رنګونه او ورمې خپروي او د هغو مرغانو لپاره ده چې د مینې او عاجزۍ درسونه راکوي. خو د دین ټېکه‌داران چې نن ورځ کوم دین وړاندې کوي، هغه ته په کتو داسې ښکاري چې د خدای جنت ګواکې د احمقو خلکو کباړخانه یا د مسخرچیانو نندارتون دی. حقیقت دا دی، هغه دین چې نن ورځ یې د اسلام ویناوال او د ملت مفکرین هرې خواته وېشي، هغه ته دین ویل په قرآن تور پورې کول دي. داسې دین د خدای په دې عظیم او حسین کاینات کې له ملنډې پرته نور هېڅ هم نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

د خدای جنت به د خورا لطیفو فعالیتونو (یس ۵۵) دنیا وي. په اوسنی دنیا کې هغه وګړي انتخابېږي، چې په دغو اعلی فعالیتونو کې د ګډون وړ ثابت شي. دغه وړتیا د حدیث په ټکو کې دا ده چې بنده په ځان کې الهي اوصاف وروزي (**تخلقوا باخلاق الله**) [دا حدیث نه دی، لیکوال له متوجه کېدو وروسته اصلاح کړی دی؛ ژ] د شخصي میلانونو له ټیټې سطحې راهسک شي او د خدایي شعور په سطحه کې ژوند پیل کړي. د ویناوالی معجزې او عملیاتي کرشمې د جنت دروازه ګڼل همداسې ده لکه یو شخص چې په سرکس کې یو کمال ښکاره کړي او دا ګومان ورته پیدا شي، چې اوس یې د هېواد د صدراعظمی استحقاق پیدا کړی دی.

★

★★

# ماتې د اخرت ماتې ده او بریا د اخرت بریا

**د قرآن کریم په ۶۳مه سوره کې ارشاد دی:**

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذَٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ.

**ژباړه: هغه ورځ چې تاسې د راغونډولو په ورځ راټول کړي، هماغه د ګټې او تاوان ورځ ده.**

**د تغابن کلمه د داسې سودا لپاره کارول کېږي، چې یو لوری په کې لاندې او بل لوری په کې باندې وي. یو تاوان په کې وکړي او بل لوری ګټه ورسره پورته کړي. مطلب دا چې خلکو په غلطفهمی‌کې همدا دنیا د ګټې او تاوان (تغابن) ورځ ګڼلې ده. حال دا چې د ګټې او تاوان ورځ په اصل کې اخرت دی. د دې آیت په تفسیر کې مقاتل بن حیان لیکلي دي:**

لاغبن اعظم من ان یدخل هولاء الی الجنة و یذهب باولئک الی النار (ابن کثیر)

**ژباړه: هېڅ ګټه او تاوان له دې لوی نه دي، چې یوه ډله دې جنت ته داخله شي او بله ډله دې جهنم ته وغورځول شي.**

**په دنیا کې شهرت، عزت، دولت، اقتدار او عیش ته بې شمېره دروازې پرانیستې دي. هر سړی د خپلو حالاتو مطابق دې دروازې ته ور په منډه دی. څوک چې په دې فرصتونه کې یوه برخه ترلاسه کړي، نو د فخر احساس په**



ketabton.com - The Digital Library

کې پیدا شي. خپل ځان بریالی په سترکو ورځې. خو هغه چې دغه فرصتونه نه مومي، هغه ته خلک په حقیره سترکه ګوري، او عام فکر دا شي، چې دا هغه شخص دی، چې د ژوند په منډه کې شاته پاتې دی.

د دې وجه دا ده چې خلک، له شعوري یا لاشعوري پلوه، همدا دنیا د ماتې او بریا ځای ګڼي. دوی په دې فکر شي، چې د همدې دنیا جنت، جنت دی او د همدې دنیا دوزخ، دوزخ. قرآن ویلي دي، چې دا ماڼې دوکه ده ــــــــ ماتې او بریا خو په اصل کې هغه ده چې په اینده ژوند کې راتلونکې ده. هغه خلک چې په دنیا کې ځانونه فاتح ویني، کله چې پرده ایسته شي، نو هغوی به حیران وګوري، چې اصل حقیقت خو بل څه و. هلته به معلومه شي، چې څوک په تاوان کې و او چاګټه یووړه. په اصل کې دوکه چا وخوړه او هوښیار څوک وو. څوک د ژوند په منډه کې شاته پاتې شوو او څوک مخکې په کې ووت. چا خپلې ورتیاوې په ګټورو کارونو کې ولګولې او څوک و، چې خپلې ټولې ورتیاوې یې په لنډمهالو تماشو کې بربادې کړې.

حقیقت دا دی چې تاوان د هماغه دی، چې په اخرت کې یې وبایلله او بریا صرف د هغه ده، چې په اخرت کې یې بریا حاصله کړه. هغه خلک چې په دنیوي مصلحتونو کې د مهارت په سر د نن ورځې په دنیا کې عزت او پرمختګ لاسته راوړي، د سبا ورځې په دنیا کې به دغه مهارتونه بالکل ناچله شي. له مړینې وروسته چې کله دوی د اخرت عالم ته ورسېږي، نو هلته به هغوی د عزت د مقام په موندلو کې همداسې خپل ځان ناوړه ومومي، لکه د پخواني دور دستکار چې په دودیز کې چاپېریال کې باکماله ترسترګو کېږي. خو که ټکنالوژیکې ټولنې ته واستول شي، نو هلته به بالکل بې قیمته شي.

★

## قال رسول الله صلي الله عليه وسلم

«ان الله تعالی اوحی الی ان تواضعوا حتی لا يبغی احدٌ علی احد ولا يفخُر احد علی احد.»

ژباړه: رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم وفرمایل: اللّه ماته وحي وکړه، چې عاجزي غوره کړئ. هېڅ څوک دې چاسره زیاتی نه کوي. هېڅ څوک دې په بل چالویي نه کوي.

(مسلم)

★

★★

ketabton.com - The Digital Library



د امریکا ډاکټر مائیکل هارټ ستورپوه دی او په خوا کې یې مؤرخ هم دی. ده او په لوړو زدکړو سمبالې مېرمنې یې په ګډه د نړۍ تاریخ مطالعه کړ او بیا یې خپل برداشت د یوه کتاب په بڼه چاپ کړ، چې نوم یې دی: (اغېزناک سل) دا کتاب ۵۷۲ مخه دی.

په دې کتاب کې د سلو هغو انسانانو حالات راغلي دي چې د لیکوال په نزد په تاریخ یې تر ټولو ډېر اغېز ښندلی دی. په تاریخ کې میلیونونه انسانان تېر شوي دي، خو د لیکوال په نزد په هغو ټولو کې تر ټولو ستر انسان محمد (صلی الله علیه وسلم) و. په دې چې:

«دی د تاریخ یوازنی انسان دی چې تر وروستي بریده بریالی انسان پاتې شوی، له مذهبي پلوه هم او په دنیوي کچه هم.» د لیکوال په نزد د محمد صلی الله علیه وسلم ذات یوازې د خپل ځان تر حده پورې محدود نه و، بلکې د ستروالي اغېز یې په ټول بشپر خپور دی. په انساني تاریخ باندې د هغه د شخصیت غالب اغېز تر اوسه پورې غوړېدلی دی.

د سلو عظیمو انسانانو په دې لیکلړ کې په دریمه درجه کې د مسیح علیه السلام نوم دی، په ۱٦مه شمېره کې د موسی علیه السلام او په ۵۱مه شمېره باندې دوهم خلیفه عمر بن خطاب رضي الله عنه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت باندې د نامسلمانو لیکوالو له قلم نه دغسې مضامین او کتابونه بې شمېره چاپ شوي دي. که دا ټول راټول شي او غورچاڼ یې خپور شي، نو د اسلام په خپراوي کې به ډېر زیات مفید وي.

★★★

# هغه خلک چې د دین په خاطر په دنیا کې بې حیثیته شوي وي

**عن حارثة بن وهاب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا أُخبرکم بملوک اهل الجنة؟ قالوا: بلی یا رسول الله. قال: کلُّ ضعیفٍ مستضعفٍ اَغبرَ اَشعثَ (متفق علیه)**

ژباړه: حارثه بن وهاب وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درته ووایم چې د جنتیانو پادشاهان څوک دي؟ خلکو وویل، ولې نه، اې د الله رسوله! ویې فرمایل: هغه چې کمزوری وي او کمزوری ګڼل شوی وي، په خاورو لړلی او د ببرو وېښتو خاوند.

هغه خلک چې د مصلحت پرستي په ځای اصولپسندي خپل دین ګرځوي. هغه چې د دنیا په

ketabton.com - The Digital Library

مقابل کې اخرت ته ترجیح ورکوي. هغه چې ګټو ته د اهمیت ورکولو په ځای حق ته اهمیت ورکوي. هغه چې د بندګانو په ځای خدای د خپلو توجهاتو مرکز ګرځوي، داسې خلک زیاتره وختونه په دنیا کې بې مقامه وي. دوی په هغو شیانو کې د هېڅ شي ثبوت نه شي ورکولی، چې دنیوي ارزښت یې وي او په دنیا کې بنده ته عزت وربښي. د هغوی د دې حالت له امله داسې کېږي، چې خلک هغوی بې حیثیته او ناکامه ګڼي. په دنیوي نقشو کې هغوی د عزت په مقام نه کېنول کېږي. خو کله چې اوسنۍ دنیا ړنګه شي او د اخرت عالم جوړ شي، نو هلته به همدا خلک تر ټولو لوړ مقام حاصل کړي. همدوی به تر ټولو ډېر بریالي انسانان وګرځول شي. د نن ورځې په دنیا کې بې زوره به د سبا ورځې په دنیا کې د پادشاهانو غوندې ژوند تېروي، لکه په استبدادي نظام کې چې یو ولسواک رهبر د ذلت او ګمنامۍ زندان ته استول کېږي. خو کله چې جمهوري حالات راشي او د ولس په رایه د سیاسي مقامونو پرېکړې کېږي، نو هماغه شخص د اقتدار په لوړترینه کرسۍ لیدل کېږي، چې تر پرونه پورې د یوه معمولي عسکر په وړاندې هم بې زوره لیدل کېده.

★★★

# په نیمګړې چمتوالي ترسره شوی اقدام مسئله لا زیاته سنګینوي

**زمری په خپل فطرت کې انسانخور ځناور نه دی. زمری چې انسانخور کېږي، په دې کې زیاتره وختونه د هغو نامسلکي ښکاریانو لاس وي، چې په زمري مرمۍ واروي خو د هغوی مرمۍ د سم هدف په ځای له زمري سره په سولېدو تېره شي. همدغه ډول زمری د انسان دښمن کرځي. بیا چې دی هر چېرته انساني څېره ویني، په هغه برید کوي او تر ستوني یې تېروي. په همدې ډول که تاسې د خپل مخالف په وړاندې داسې اقدامات وکړئ، چې د نیمګړي چمتوالي له امله پرېکنده نه وي، نو دغه ډول هر اقدام به مو مخالف تر پخوا لا زیات ولمسوي او ستونزه به درته تر پخوا لا ډېره سنګینه کړي.**



ketabton.com - The Digital Library

## تکړه او نېک انسان له هر شي ډېر قيمتي

بخاري په تاريخ صغير کې دا کيسه راوړې ده. زيد بن اسلم د خپل پلار له خولې وايي، چې عمر بن خطاب رضي الله عنه خپلو صحابوو ته وويل: تاسې خپل ارمانونه بيان کړئ. يوه وويل، زما ارزو ده چې دا کور له درهمو ډک واى، نو ما به د خداى په لاره کې لګولي وو. بل وويل، که له ماسره د دې کور په اندازه سره زر واى، نو ما به د الله په لاره کې لګولي وو. دريم وويل، زما ارزو ده چې دا کور زما لپاره له مرغلرو ډک واى او ما د الله په لاره کې لګولې واى. او داسې نور. عمر رضي الله عنه وفرمايل:

**لکنی اتمنی ان يکون ملأ هذا البيت رجلا مثل ابی عبيدة بن الجراح و معاذ بن جبل و حذيفة بن اليمان فاستعملهم في طاعة الله.**

ژباړه: خو زما ارزو خو دا ده چې په دې کور کې له ماسره د ابوعبيده بن الجراح، معاذ بن جبل او حذيفة بن يمان غوندې خلک واى او د خداى په کارونو کې مې له هغوى نه کار اخيستلى.

## د امير ځانګړنې

ابن سعد له عبدالله بن عباس رض نه روايت کړى دى. هغه وايي چې ما د عمر رضي الله عنه دومره خدمت وکړ، چې د هغه له کورنۍ نه هم چا د هغه دومره خدمت نه دى کړى. هغه به زه ځان سره کېنولم او زما عزت به يې کاوه. يوه ورځ زه له هغه سره په کور کې يوازې وم. ناڅاپه هغه دومره ژوره آه وکيښه چې ګمان مې وکړ، چې له دې آه سره به يې ساه ووځي. ما ورنه پوښتنه وکړه، چې ايا له کومه ډاره مو دومره آه وکيښه؟ هغه وويل، هو. ومې ويل، د څه شي ډار دى؟ ويې فرمايل، دلته نيردې راشه. زه ور نيږدې شوم. بيا يې وفرمايل: د دې کار (خلافت) لپاره هېڅ وړ کس په نظر نه راځي. ما د شپږو کسانو نوم ورته واخيست او ومې ويل: آيا تاسې له پلانکي او پلانکي نه غافله ياستئ؟ ما يو، يو نوم اخيسته او هغه به د هر يوه په باره کې يوه نيمه خبره کوله. په اخره کې يې وويل:

**انه لا يصلح لهذا الامر الا شديد فی غير عنف، ليّن فی غير ضعف، جواد من غير سرف، ممسک في غير بخل (کنز العمال جلد ۳)**

ژباړه: دې کار ته وړ يوازې هغه شخص دى چې سخت وي خو لويي په کې نه وي، نرم وي خو کمزوري نه وي، سخي وي خو فضول خرچه نه وي، لاس نيوونکى وي خو بخيل نه وي.

عبدالله بن عباس رض وويل: دا صفات له عمر رضي الله عنه نه پرته په هيچا کې هم نه دي جمع شوي.

## د امير همنشينه بايد څه ډول وي

طبراني له عبدالله بن عباس رض نه نقل کړي دي. دى وايي، چې زما پلار ماته وويل: اې زما زويه! زه ګورم چې امير المؤمنين (عمر رضي الله عنه) تا خپلو مجلسونو ته غواړي، تا ځان سره نيردې کېنوي او د نورو صحابوو په خوا کې له تاهم مشوره اخلي. خو له مانه دغه درې نصيحتونه واوره:

ketabton.com - The Digital Library

**اتق الله لايجرين عليک کذبة، ولا تفشين له سرا، ولا تغتابن عنده احدا.** ژباړه: له الله نه ووېرېږه، پام کوه چې اميرالمؤمنين درنه کله دروغ ونه ويني، د هغه رازونه درنه افشا نه شي او هغه ته د چا غيبت مه کوه.

عامر وايي، ما عبدالله بن عباس رض ته وويل، دا هر يو نصيحت د زرو (درهمو/ديناور) برابر دی. خو ابن عباس رض وويل، دا هر نصيحت له لسو زرو نه هم بهتر دی.

## د چاپلوس ماتحتو لرل بده نښه ده

عائشه رضي الله عنها وايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله چې کله له واکمن سره د خير اراده کوي، نو هغه ته رښتونی وزير ورپه برخه کوي چې که يې څه هېر شي، نو ور په زړه يې کړي. او که يې په ياد وي، نو مرسته ورسره وکړي. او کله چې له واکمن سره د هغې بالعکس اراده کوي، نو هغه ته بد وزير ورپه برخه کوي. که يې څه هېر شي، نو نه يې ور په زړه کوي، او که يې په زړه وي، نو مرسته نه ورسره کوي. (ابو داؤد)

## د خولې عقيدت د حقيقي اړيکې ثبوت نه دی

جبير بن نفير وايي، زما پلار وويل، چې يوه ورځ موږ له مقداد بن اسود رضي الله عنه سره ناست و، چې يو شخص تېر شو. د صحابي په ليد هغه وويل: څومره خوش نصيبې دي دغه دوه سترګې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې ليدلی دی. والله، زموږ ارمان دی چې تاسې څه ليدلي دي، کاشکې موږ هم ليدلي وای او په کومو شېبو کې تاسې ګډون کړی، موږ هم ګډون کړی وای. زما د دې سړي خبره خوښه شوه. ما فکر وکړ، چې دې سړي د خير خبره وکړه. خو مقداد بن اسود رضي الله عنه هغه ته وکتل او ويې فرمايل: له تاسې نه هېڅ تن هم بايد په هغو وختونو کې د حاضرۍ ارزو ونه لري، چې الله تعالی ورنه ساتلی دی. څوک خبر دي، چې په هغه وخت کې به تا څه کړي و. په خدا قسم، د رسول الله صلی الله عليه وسلم څنګ ته ډېر داسې خلک راغلل، چې الله جهنم ته ورپورې وهل. هغوی نه د پيغمبر عليه السلام خبره ومنله او نه يې رښتونې وګڼه.

د کوفې يوه سړي حذيفه بن اليمان رضي الله عنه ته وويل: اې ابو عبدالله! تاسې رسول الله صلی الله عليه وسلم ليدلی او د هغوی په صبحت کې مو ناسته پاسته کړې ده؟ هغه ځواب ورکړ «هو زما وراره.» کوفي وويل، تاسې به څه کول؟ حضرت حذيفه وويل «په خدای قسم، موږ به ستړې او خوارۍ تېرولې.» کوفي وويل: په خدای قسم، که موږ نبي کريم صلی الله عليه وسلم موندلی وای، نو موږ به په ځمکه باندې تګ ته نه و پرې ايښی. په خپلو ورمېږونو به مو سپور ګرځاوه. حضرت حذيفه وويل: **انت کنت تفعل ذلک**. ژباړه: همداسې به دې کول! (مسلم)

## لنډمهالي جذبه اسلام نه ده

د احد په غزا (۳هـ) کې يوه مسلمان ګډون وکړ او ووژل شو. د هغه مور چې خبره شوه، نو ويې ويل **وا شهيداه.** (وای شهيده) نبي کريم صلی الله عليه سلم چې واورېدل، نو ويې فرمايل:

ketabton.com - The Digital Library

**مه، ما يدريک انه شهيد. و لعله کان يتکلم فيما لا يعنيه و يبخل بما لا ينقصه.**

ژباړه: ته صبر! ته څه خبره شوې چې هغه شهيد شو؟ شايد هغه به بې ګټې خبرې کولې او د هغه څه په ورکړه کې به بخيل و، چې په ورکولو کې به يې هېڅ تاوان نه و. **(ترمذي)**

## له خدای سره ادني شرک هم نامنظور دی

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندې يوه شخص وويل:

**ماشاء الله و ما شئت.**

ژباړه: څه چې خدای وغواړي او څه چې تاسې وغواړئ.

په رسول الله ص دا خبره زښته بده ولګېده او ويې فرمايل:

**اجلعتني لله ندا،**

ژباړه: زه دې له خدای سره برابر کړم،

**بل ما شاءالله وحده.**

بلکې داسې ووايه: يکې يو خدای چې څه وغواړي.

## تر وروستۍ شېبې پورې په الله يقين

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د هجرت لپاره له مکې ښار نه ووت، نو لومړی درې ورځې يې د ثور په سمڅه کې تېرې کړې. د قريشو څو تنه د رسول الله ص په تلاش کې تر سمڅې پورې ورسېدل. ابوبکر رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: وا د خدای رسوله! دښمن خو دومره نيږدې راورسېد، چې که کوم يوه يې خپلو پښو ته وکتل، نو موږ به د خپلو قدمونو لاندې ووينې. رسول الله وفرمايل:

**يا ابابکر ماظنک باثنين الله ثالثهما.** (البداية و النهاية جلد ۳)

اې ابوبکره! د هغو دوو په اړه ستا څه خيال دی، چې دريم ورسره الله وي.

## په دنيوي مشکلاتو کې د خدای اسره يادول

علي ابن ابي طالب رضي الله عنه وايي، د فاطمې به دا حال و چې د کور ټول کارونه به دې ته ور له غاړې و. د مېچنې د تاوولو له امله به يې لاسونه تناکي شوو. د اوبو مشک به يې ډک راووړ نو په غاړه کې يې نښان لوېدلی و. د جارو له لاسه به يې کالي خيرن شول. يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم ته څو تنه خادمان راغلل. ما فاطمې ته وويل: خپل پلار ته دې ورشه او د ځان لپاره يو خادم ورنه وغواړه. فاطمه رضي الله عنها ورغله. خو په کور کې ډېر خلک راټول وو. له پلار سره يې ليده ونه شول او بېرته راستنه شوه. په سبا ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم زموږ کور ته راغی او پوښتنه يې وکړه، چې پرون دې څه کار و؟ فاطمه رض غلې ولاړه وه. نو ما ورته کيسه وکړه. رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته خادم ور نه کړ، بلکې ويې فرمايل:

**اتقي الله يا فاطمة و ادّی فريضة ربک واعمل عمل اهلکِ واذا اخذتِ مضجعکِ فسبحی ثلاثا وثلاثين و احمدی ثلاثا وثلاثين وکبری اربعا و ثلاثين فذلک مائة. هی خير لک من خادم.** (الترغيب و الترهيب جلد ۳)

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: اې فاطمې! له الله ووېرېږه. د خپل رب فرایض په ځای کړه. د خپل کاله کارونه وکړه. او چې کله د خوب ځای ته ورسېږې، نو ۳۳ ځله د الله تسبیحووایه. ۳۳ ځله د الله حمد ووایه. ۳۴ ځله د الله تکبیر ووایه. دا ټول سل کېږي. دا ستا لپاره له خادم نه غوره دي.

## په خورا کینې سربېره بشپړ انصاف

بیهقي له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت کړی دی. دی وایي، چې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه به هر کال د مالیاتو د ټولولو لپاره خیبر ته ته. هلته به یې د خیبر د کجورو اندازه ولګوله او د خپلې اندازې مطابق به یې نیمایي د خیبر د خلکو لپاره مقرر کړل. د خیبر یهودو شکایت وکړ، چې دی له حاصل نه ډېر تخمین لګوي. او د رشوت لالچ یې هم ورکړ. عبدالله بن رواحه رض وویل: اې د الله دښمنانو! تاسې غواړئ په ما حرام وخورئ؟ په خدای قسم! زه تاسې ته د یوه داسې ذات له لوري راغلی یم چې ماته له ټولې دنیا نه ډېر محبوب دی. او تاسې سره دومره کینه او بغض لرم چې ستاسې د نفوس په شمېر له بیزوګانو او خنځیرانو نه یې نه لرم:

**ولا یحملنی بغضی ایاکم و حبی ایاه علی ان لا اعدل علیکم**

ژباړه: خو داسې نه شي کېدی چې تاسې سره د بغض او رسول الله ص سره د مینې له امله تاسې سره انصاف ونه کړم.

یهودو وویل: د همدغه عدل له برکته خو دا مځکه او اسمان تم دي.

## د اخرت له یادېدو سره یې خپله دعوه هېره شوه

ابن ابي شیبه له ام سلمه رضي الله عنها نه روایت کړی دی. هغه وایي، چې د انصارو له ډلې نه دوه کسانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه لانجه راوړه. دا لانجه په یوه پخواني میراث باندې وه او په دواړو کې له یوه سره هم شاهد نه و. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسې ماته خپلې لانجې راوړئ او زه په خپله رایه یوه پرېکړه کوم او د هغې په اړه ماته وحي هم نه وي راغلې. نو که زه د یو چا د استدلال په اساس د هغه په حق کې داسې پرېکړه وکړم، چې په هغې کې مې د هغه د ورور برخه کمه کړې او ده ته ورکړې وي، نو دی دې یې نه اخلي. ځکه په دې صورت کې مې ده ته د اور ټوټه ورکړې ده او د قیامت په ورځ به دی په داسې حال کې له هغې ټوټې سره راشي، چې په غاړه پورې به یې نښتې وي. د دې خبرې په اورېدو دواړه انصاریان په ژړا شول. هر یوه وویل:

**یا رسول الله حقی له.**

ژباړه: اې د الله رسوله! ما خپل حق ده ته ورکړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښه چې دا کار مو وکړ، نو اوس لاړ شئ او د حق او انصاف اراده وکړئ. میراث دوه برخې کړئ او بیا پچه ورباندې واچوئ. په دې ډول چې هر یوه ته کومه برخه درغله، نو دا بل ملګری دې یې د هغه لپاره حلاله کړي. (**کنز العمال جلد ۳**)

ketabton.com - The Digital Library

## د الله له ویرې یې دره له لاسه ورغوځېده

ابو مسعود بدري رضي الله عنه وايي، يوه ورځ زه په کومه خبره له خپل غلام نه خوابدی شوم او د درې وارونه مې وربادنې وکړل. په دې وخت کې له شا نه اواز راغی «اې ابو مسعوده پوه شه.» خو زه د غوسې په حالت کې وم. اواز مې ونه پېژانده. اواز کوونکی چې کله نيږدې راغی، نو ومې لیدل چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم و. هغه فرمایل:

**اعلم ابا مسعود ان الله اقدر علیک منک علی هذا الغلام** (مسلم).

ژباړه: ابومسعوده! پوه شه، څومره چې ته په دې سړي باندې برلاسی یې، خدای تر هغه زيات په تا برلاسی دی.

د دې خبرې په اورېدو زما له لاسه دره ولوېده او ومې ویل: «له نن نه وروسته به هیڅ کله کوم غلام ونه وهم، زه دغه غلام د الله د رضا لپاره ازادوم.» رسول الله وفرمایل:

**اما انه لو لم تفعل لمستک النار**. (مسلم)

ژباړه: که دې داسې نه وای کړي، نو د جهنم اور به در نيږدې شوی و.

## ان د کمزوري په معامله کې هم د خدای له ګرفت نه ویره

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې مېرمنې ام سلمه رض په کور کې و، د کوم کار لپاره یې خپلې نوکرې ته اړتیا شوه. رسول الله ص ور غږ کړل. خو نوکره یې په راتلو کې ځنډ شوه. د رسول الله په څېره د غوسې نښې ښکاره شوې. ام سلمه رض د رسول الله په لیدو سمدستي ورپاڅېده. د پردې خواته چې ورغله، ویې لیدل چې نوکره دباندې د اوزې له بچونو سره لوبې کوي. ام سلمه بیا هغې ته ورغږ کړ. هغه راغله. په دې وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې مسواک و، نو خادمې ته یې وویل:

**لو لا خشية القود لاوجعتکِ بهذا السواک**. (الادب المفرد)

ژباړه: که د قیامت په ورځ د انتقام وېره راسره نه وای، نو په دې مسواک به مې وهلې وې.

## له الله نه تر ټولو لوی د غوښتلو شي مغفرت دی

انس بن مالك رضي الله عنه وايي، انصار د اوبو رسوونکو اوښانو له کمښت سره مخ شول. هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل تر څو د اوښانو بندوبست ورته وکړي یا ښه بهېدونکې ویاله ورته وکيني. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی په لیدو وفرمایل: انصار دې خدای راولي، انصار دې خدای راولي، انصار دې خدای راولي. نن چې تاسې هر څه رانه وغواړئ، هغه به خامخا درکوم او ستاسې لپاره چې له الله تعالی نه هر څه وغواړم، هغه به یې خامخا درکړي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خولې نه چې هغوی دا خبره واورېده، نو له خپلې خبرې واوښتل. هغوی فکر وکړ، چې ډېر لوی د غوښتلو شی خو اخرت دی، نو په داسې قیمتي فرصت کې له رسول الله نه دنیا ولې وغواړو. هغوی په خپلو کې سره وویل:

ketabton.com - The Digital Library

**اغتنموها وسلوه المغفرة.**

ژباړه: دا فرصت غنيمت وګڼئ او د مغفرت سوال ورنه وکړئ.

هغوی وويل: اې د خدايه رسوله! زموږ لپاره د مغفرت دعا وکړئ. رسول الله ص سمدستي وويل: اې الله! انصارو ته مغفرت وکړه، د هغوی اولادونو ته مغفرت وکړه، د هغوی ښځو ته مغفرت وکړه. (احمد)

## غوسه مه کوه، غوسه مه کوه، غوسه مه کوه

ابو هريرة رضي الله عنه وايي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته يو شخص راغی او ويې ويل: ماته نصيحت وکړئ. رسول الله وفرمايل: **لاتغضب** (غوسه مه کوه). هغه بيا وويل: ماته نصيحت وکړئ. رسول الله بيا وفرمايل: **لاتغضب** (غوسه مه کوه) هغه بيا بيا خپله پوښتنه تکراروله او رسول الله هر ځل همدا خبره ورته کوله: غوسه مه کوه. (**بخاري**)

## له دنيا نه ډک، له اخرت نه خالي

**قال ابوالدرداء: مالی اراکم شباعا من الطعام جياعا من العلم** (**جامع بيان العلم، جزء ثانی، صفحه ۲۰۲**)

ژباړه: حضرت ابوالدرداء وويل، دا څه دي چې زه تاسې په ګېډو ماړه وينم او له علم او پوهې وږي ياستئ؟

## هغوی به خدای ته مسکي وي، خدای به هغوی ته مسکي وي

طبراني له حصين بن وحوح او طلحه بن مسکين نه روايت کړی دی. طلحه بن براء رضي الله عنه، رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت ته راغی. دا وخت دی تنکی زلمی و. هغه وويل: يارسول الله! تاسې ته چې هر څه محبوب وي، ماته يې امر وکړئ، زه به په هېڅ کار کې هم نافرماني ونه کړم. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: ان که امر درته وکړم، چې له خپل مور او پلار سره اړيکه پرې کړه! راوي وايي، چې د طلحه مور وه او ده به له هغې سره ډېره غوره رويه کوله. طلحه بن براء رض د نبي کريم ص د امر منلو ته غاړه کېښوده، نو رسول الله وفرمايل: اې طلحه! زموږ په دين کې د خپلوی پرېکول نشته. خو ما غوښتل چې ستا په دين کې هېڅ شک پاتې نه شي.

طلحه بن براء رض اسلام راووړ او اسلام يې ډېر ښه پاتې شو. دی چې په مرګوني مرض مبتلا شو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم يې عيادت ته راغی. رسول الله دی په داسې حال کې وموندہ چې بې هوښې ورباندې راغلې وه. د دې په ليدو رسول الله وفرمايل: زما چې څومره خيال دی، نو طلحه به همدا نن شپه رانه واخيستل شي. له هغه وروسته رسول الله ص بېرته راستون شو او ويې ويل چې کله په هوښ راغی، نو ما راوبولئ. نيمه شپه وه، طلحه په هوښ راغی. خو د رسول الله له خبرولو يې منع کړل او ويې ويل، داسې نه وي چې د شپې په تياره کې يې کوم موذي ځناور وداړي يا د يهودي دښمنانو له لاسه کوم تکليف ورته ورسېږي. په همدې شپه حضرت طلحه وفات شو. د سهار له لمانځه وروسته رسول الله ته د هغه د مړينې خبر ورکول شو، نو ويې فرمايل:

ketabton.com - The Digital Library

**الله القه يضحک اليک و انت تضحک اليه.**

ژباړه: اې خدايه! ته ورسره داسې ملاقات وکړه، چې هغه ستا په ليدو مسکی وي او ته د هغه په ليدو مسکی يې.

## اصل اعتبار باطن ته دی

ابن عساکر له زهري نه روايت کړی دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د عبدالله بن حذافه رض په باره کې شکايت وشو، چې هغه ډېر ټوکي دی او رشخند غړوي (**انه صاحب مزاح و باطل**). رسول الله وفرمايل:

**اترکوه فان له بطانة يحب الله و رسوله.**

ژباړه: هغه په خپل حال پرېږدئ. د هغه باطن له الله او د هغه له رسول سره مينه لري.

## له مشکل جوړولو پرته ملګرتيا کول

ابوبکر رضي الله عنه چې د روم غزوې ته اراده وکړه، نو صحابه کرام يې راټول کړل او وينا يې ورته وکړه. ويې ويل، زما نظر دا دی چې مسلمانان دې د شام په لور له روميانو سره جهاد ته ووځي. الله به خامخا له مسلمانانو سره مرسته وکړي او خپله کلمه به لوړه کړي. له وينا وروسته مشوره وشوه. ځينې مخالف نظرونه هم راغلل. خو له يو څه ځنډ خبرو وروسته ټولو په يوه خوله وويل:

**ما رأيت من رأی فامضه فانا لانخالفک ولا نتهمک** (**ابن عساکر**)

ژباړه: ستاسې چې هره رايه وي، هماغسې وکړئ. موږ به نه ستاسې مخالفت وکړو او نه به په تاسې تور پورې کړو.



ketabton.com - The Digital Library

## ایمان دا دی چې په غیرمعمولي حالاتو کې د بنده انا راویښه نه شي، خدای‌پرستي یې راویښه شي

د انسان په ژوند کې راز، راز پېښې رامنځته کېږي. کله ارام، کله تکلیف، کله ستاینه، کله تنقید، کله خوښي، کله غم. دا لوړې ژورې ټولې د امتحان پرچې دي. کامیابي دا ده چې د دې پېښو له امله په بنده کې اناپرستي راویښه نه شي، بلکې خداپرستي راویښه شي. که د خوښي شېبه وي یا د هوساینې خبره، د شکر جذبه په کې راهسکه شي. که له چا تکلیف ورته ورسېږي، نو د عاجزي او بندګي روح په کې پیدا شي.

★★★



### روژه: اخرت ته له زیان رسوونکو شیانو د ځان ساتنې سبق

روژه د دې خبرې درس دی چې په دنیا کې باید انسان له ځینو شیانو نه په ځان ساتلو ژوند تېر کړي تر څو په اخرت کې بریالی شي. په دنیا کې یو تاجر له فضول خرچۍ ځان ساتي، زده کوونکی د وخت له بربادولو ځان ساتي، مزدور له تنبلي او ناړامي ځان ساتي. دغه ډول خوندي موندي ژوند تېرول د دنیا کامیابي ګڼل کېږي. که انسان خپل ځان له تنبلي، فضول خرچي، عیاشي او وخت بربادولو ونه ساتي، نو هېڅ ډول کامیابي نه شي حاصلولی.

د اخرت هم همدې ته ورته کیسه ده. په اخرت کې د کامیابي لپاره انسان باید متقیانه ژوند تېر کړي. له ځینو شیانو باید ځان وساتي. روژه د همدې لپاره فرض شوې ده، چې اخرت ته له زیان رسوونکو شیانو نه د ځان ساتنې او له هغو پرته د ژوند تېرولو درس راکړي. هغه شخص چې ټوله ورځ روژه نیسي، ماښام له خوړو نه ډېر زیات خوند اخلي. په همدې ډول هغه شخص چې په دنیا کې د خدای له منع کړیو شیانو ځان وساتي، هماغه به د اخرت په ژوند کې خوندونه مومي.

ketabton.com - The Digital Library

# زموږ د ژوند دوه مخونه دي

يو ځل مې له يوه لوی دولتي افسر سره ملاقات و. ماښام وخت و. ټول د هغه په پرتمينه بنګله کې ناست و. ناڅاپي يې په ما غږ وکړ «مولانا صاحب! زموږ ژوند هم څه بدرنګه ژوند دی. اوس وګورئ. سبا ګهيځ له لمر ختو مخکې به هوايي ميدان ته ځم. د پلانکي هېواد لوړپوړی سياسي شخصيت زموږ په هوايي ډګر کې کوزېږي. زه به نه يوازې خپل خوب پرېږدم او هوايي ميدان ته به ځان رسوم، بلکې په زړه کې له نفرت سره، سره به په خندا، خندا له هغه نه هرکلی هم کوم.»

دا ساده مثال راته ښيي، چې د لويو خلکو ژوند په څه ډول دوه مخيزه ژوند وي. د هغوی د ژوند يو اړخ موټر، بنګله او عزت او اقتدار وي. خو د ژوند يو بل اړخ يې هم دی، چې له دې نه ډېر زيات مختلف وي. هغه دا چې دغه شيان دوی د کومو کارونو په نتيجه کې لاسته راوړي وي. که تاسو د کوم لوی کس درون ته ور وګورئ نو معلومه به شي چې د دې رنګ و رونق بل اړخ دا دی، چې دوی خپل ځانونه په سطحيت باندې راضي کړي دي، يانې چاپلوسي، فرصتپرستي، مصلحتپالنه، زمانه سازي، بې وجداني، تظاهر، دوه مخي، همدا هغه شيان دي، چې دوی يې د يوه پرتمين ژوند په بيه قيمت ترلاسه کوي. د هر لوی انسان د ژوند دوه مخونه دي. يو پرتمين، بل تياره او بې روحه. دی چې کله د خپل «انساني وجود» په قتلولو راضي شي، له هغه وروسته دا امکان پيدا کېږي، چې د «حيواني وجود» په سطحه دې د مقام او دبدبې ژوند حاصل کړي.

د عام انسان ژوند هم همدغسې دوه اړخونه لري. يو کارګر د مۍ او جون په سخته ګرمي کې کار کوي. له سره تر نوکه په خولو کې ډوب دی. خو بيا هم په خپل کار کې لګيا وي. دی ولې ځان د خواريو په بټۍ کې سوځوي؟ ځکه دی پوهېږي، چې دغه «لمر» يو «سيوری» هم لري. د ده د مزدورۍ يو اړخ ګرمي او تودوخه کې ځان سوځول دي او بل اړخ يې دا دی، چې ماښام به څو پيسې ترلاسه کړي او د خپلې کډې او بچو ضرورتونه به ورباندې پوره کړي او د شپې به ارامه خوب وکړي.

دا چې يو کار دوه خواوې (مثلاً مزدوري او پيسې) لري، نو دا يې هغه خوا ده چې يوازې له دنيوي پلوه موجود دی. همدا راز د دنيا او اخرت له پلوه هم د کار دوه اړخونه دي. بنده چې په دې دنيا کې هر کار کوي، د هغه يو اړخ هغه دی چې په دنيا کې ليدل کېږي. بل اړخ هغه دی چې په اخرت کې به ښکاره کېږي. نن ورځ موږ د خپل کار له دنيوي اړخ سره مخ يو. سبا ورځ به د خپل کار له اخروي اړخ سره پرخږو. نن ورځ موږ د ژوند په يوه جهت کې ولاړ يو، نو ځکه موږ ته د خپلو اعمالو مازې يو اړخ تر سترګو کېږي. قيامت به موږ په يوه داسې مقام کې ودروي، چې دواړه اړخونه به زموږ مخې ته راشي. لکه په دېواله ولاړ سړی چې د دېوال دواړو خواوو ته ګوري، همدا رنګه د قيامت جهان ته هم چې بنده ورسېږي، نو د حقيقت دواړه اړخونه به يې سترګو ته ودرېږي. يوه لوري ته به يې د تېر ژوند ټول تاريخ له ماشومتوب نه تر مرګه پورې د اوږد فلم په څېر مخې ته پرانيستی وي. بل لوري ته به يې د دغه تاريخ اخروي نتايج بالکل په بربنډ حالت کې د سترګو مخې ته ودرېږي:

**عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ.** (انفطار) ژباړه: بيا به هرکس ته هغه څه معلوم شي چې وړاندې يې لېږلي دي او وروسته يې پرېښې دي.

ketabton.com - The Digital Library

# فرد ته ایماني غذا رسول د دیني تحریک اصلي مقصد

یو دینداره او تعلیم‌یافته بزرګ لیکي:

«د دین د تجدید په اړه چې تاسې کوم څه لیکلي دي، هغه یو زړور او له حقیقت نه سرشاره ګام دی. دا حقیقت دی چې د اسلام سوچه لارښوونې د درنو کاڼو تر بوج لاندې خښې شوې دي. د هغو د بېرته رابرسېره کولو لپاره تاسې چې کوم «لومړی ګام» پیشنهاد کړی دی، چې هغه سره له دې چې سم دی، خو ډېر له صبر نه ډک ګام دی. له دې لارې د اسلام سربلنده کول تر یوې پېړۍ نه کمه موده نه غواړي. په هر حال د «دین د تجدید» په برخه کې چې تاسې سم هدف په ګوته کړ، نو خپل حق مو ادا کړ. اللّٰه تعالی دې ستاسې هڅې قبولې کړي.»

د دین تجدید په اوسنۍ زمانه کې د سیاست د تجدید هم معنا انګېرل شوی دی. همدا ده چې هر کله چې د تجدید خبره راپورته شي، نو سمدستي ورسره د سیاسي غلبې خبرې هم سر راهسک کړي. حال دا چې له لفظي پلوه د دین تجدید مازې د دین د نوي کولو په معنا ده. مطلب یې دی، دین له فکري پلوه سوچه کول، نه دا چې له سیاسي پلوه دین غالبه کول. د همدغه غلطپوهاوي نتیجه ده چې اسلام چې په اصل کې د خدای خاموشې دنیا ته د بنده د داخلېدو دروازه وه، د سیاسي شور او شغپ تالار ګرځېدلی دی.

هلته چې په دنیا کې راز، راز مادي خواړه موجود دي او له هغو نه برخمن شخص له دنیوي پلوه بریالی ګڼل کېږي، همدا راز اللّٰه تعالی په دې کاینات کې یو بل دسترخوان هم غوړولی دی. او هغه د اخروي خوړو دسترخوان دی چې په اروایي سطحه بنده ته رسېږي او په قرآن کریم کې په خشوع، تضرع، اخبات، انابت او دغسې نورو کلمو کې بیان کړای شوی دی. د اسلام په نزد د بنده اصلي بریا دا ده چې انسان له دې بل دسترخوان نه خپله غذا حاصله کړي. د انساني تعبیراتو په حجاب کې نغښتی دین د بنده لپاره له دغه خدایي دسترخوان نه د غذا اخیستو په وړاندې خنډ دی. دغه تعبیرات د انابت دین، د سیاست په دین بدلوي. د همدې لپاره اړتیا وي، چې دغه ډول ټول حجابونه واړول شي، تر څو د اللّٰه یو بنده چې د اللّٰه د قربت هیله من وي، هغه یې له قربت نه محروم پاتې نه شي.

★★★

ketabton.com - The Digital Library

# اعتراف!

غالباً د ۱۹۳۰م پېښه ده. د جارج اسلامیه عالي لیسې (چې وروسته اسلامیه کالج شو) یو استاد ښاغلی شرف الدین و. دی ډېر تکړه او ځیرک استاد و. یوه ورځ یو انګرېز هیئت د ده ټولګي ته د ارزیابي لپاره ورغی. ده غالباً دغه وخت نهم ټولګي ته انګرېزي ژبه تدریسوله. انګرېز هیئت د استاد په صنف کې کېناست او درس ته یې غوږ ونیوه. وروسته یې د ارزیابي په راپور کې ولیکل:

«ما د ښاغلي شرف الدین د ټولګي ارزیابي نه ده کړې، بلکې په اصل کې مې د ده په ټولګي کې ګډون کړی دی. دی په واقعي معنا یو تکړه ښوونکی دی.»

ketabton.com - The Digital Library

# توکمیز عصبیت دې تر کومه وړي

بنو مضر او بنو ربیعه د عربو دوه سیالي قبیلې وې. رسول الله صلی الله علیه وسلم د نسل له مخې له مضر قبیلې نه و. مسیلمه، چې د رسول الله ص په مقابل کې یې د نبوت دعوا کړې وه، له ربیعه قبیلې نه و. ویل کېږي، چې کله ده د نبوت دعوا وکړه، نو د ربیعه قبیلې سردار طلحة النمري ورته راغی. او له مجلس وروسته یې مسیلمه ته وویل: «زه ګواهي ورکوم چې ته دروغجن او محمد رښتونی دی. خو د ربیعه دروغجن د مضر له رښتوني نه ماته ډېر ګران دی. او په دې سره د مسیلمه له ملګرو نه شو.

(طبری، جلد ۳، صفحه ۲۴۶)

مسیلمه د قرآن په څواب کې چې کوم کلام پنځولی و، د هغه په لیدو صفا معلومېږي، چې دی د قرآن کریم له عظمت نه ډېر ښه خبر و. خو د توکمیز عصبیت له مخې به یې ځیني رشخند جملې سره اوډلې او خلکو ته به یې اورولې. مثلاً د کلام یوه برخه یې دا وه:

**یاضفدع نقی نقی، لا الشارب تمنعین ولا الماء تکدرین، لنا نصف الارض و لقریش نصف الارض، ولکن قریشا قوم یعتدون** (طبری جلد ۳، صفحه ۲۵۳)

ژباړه: اې چونګښې! تر تر کوه، ته نه د اوبو څښونکو مخه نیسې او نه اوبه چټلوې. د عربو ځمکه نیمه زموږ د ربیعه قبیلې د خلکو ده او نیمه د قریشو ده. خو قریش خو تېرې کوونکي خلک دي.

★★★

# د تنقید یو قسم دا هم دی

اچاریه پنډت پریم کشواها (زوکړه ۱۹۰۸) هندو عالم دی. دی له عربي او اردو ژبې سره هم ښه بلد دی او د الرساله له دایمي لوستونکو څخه دی. په ۱۶ جون ۱۹۷۸ په یوه لیدنه کې هغه وویل: «ستاسې د دعوت په باره کې د مسلمانو علماوو غبرګون څه دی. ما ورته وویل، چې د علماوو یو تعداد له موږ سره همغږی دی. خو یوه طبقه زموږ مخالفه هم ده. بیا مې ورته وویل، چې د هندوستان د مشهورترینې مذهبي ادارې په میاشتنۍ مجله کې په «الاسلام» کتاب یوه تبصره خپره شوې ده. په دې تبصره کې یې زموږ په دې خبره نیوکه کړې ده، چې موږ د اوسنی زمانې په مسلمانو اصلاح غوښتونکو تنقیدونه کوو. په دې برخه کې یاده میاشتنۍ زموږ په هکله لیکي:

«لیکوال د خپل زعم له مخې خو د اسلامي دعوت او اسلامي تاریخ ډېر لوی مبصر دی. خو هغه دا حقیقت څنګه هېر کړی دی، چې پخپله د نبي کریم صلی اللّٰه علیه وسلم په ژوند کې د تېرو انبیاوو او د هغوی دعوت او هدایت ته د احترام جذبه موجوده ده. نبي کریم صلی اللّٰه علیه وسلم له هیڅ تېر پیغمبر نه انکار نه دی کړی، د کوم پیغمبر په دعوت او هدایت یې تنقید یې هم نه دی کړی، بلکې د ټولو انبیاوو تصدیق، د ټولو احترام او د ټولو راوړي شریعتونه یې رښتوني ګڼلي او رښتوني ښودلي دي.» دارالعلوم، اګست ۱۹۷۷

پنډت جي د دې تبصرې په اورېدو ډېر زیات حیران شو او ویې ویل، «که دا تنقید چاپ نه وای، نو ما

ketabton.com - The Digital Library

به هېڅ کله هم یقین نه و کړی، چې یو عالم دومره کمزوري خبره هم کولی شي. دا خو یوه معلومه خبره ده چې ټول پیغمبران معصوم وي او ټول د خدای له لوري مبعوث کېږي. د هغوی حقانیت یقیني وي. نو بیا په هغوی د تنقید ځای چېرته. حال دا چې یو عام مصلح که ډېر شي، نو د یوه مجتهد حیثیت یې وي او ستاسې په نزد خو دا منلی اصول دی چې ——— المجتهد یخطئ و یصیب (مجتهد غلطي هم کوي او صحیح هم وي.)

بیا یې وویل، د یادې میاشتنۍ په تنقید پورې ماته یوه ټوکه رایاده شوه. فکر کوم دغه ټوکه په دې ډول تنقیدونو ډېره سمه برابرېږي:

دهقان او ژرندګړی په لاره روان وو. ژرندګړي وویل:

وا دهقانه وا دهقانه

په سر دې پروره ده پرېمانه

دهقان په دې خبره ځان سره سوچ وکړ، چې موچې خو میدان وېووړ، نو اوس زه هم باید یو څه ورته ووایم، نو دهقان وویل:

وا ژرندګرېه وا ژرندګرېه

په سر دې ده مېچنه

موچي وویل، چې دا خو هېڅ جوړ نه راځي. دهقان سمدستي ورته وویل: جوړ دې نه راځي، ته خو به یې تر بوج لاندې ومرې.

«د ظهور اسلام کتاب لومړنۍ صفحه غلطه ده. لیکوال په شاه ولي اللّٰه اعتراض کړی دی، چې هغه د الهمني ربي (رب مې راته الهام وکړ) په ژبه کې خبرې کوي. او د ظهور اسلام په سریزه کې لیکوال پخپله هم د ځان په باره کې همدا خبره لیکلې ده.»

دا تنقید هم هماغسې دی، چې څوک ووایي «موچیه وا موچیه، په سر دې دی لوی غر» که له دهقان نه څوک پوښتنه وکړي، چې زما په سر غر چا کېښود؟ او هغه ځواب راکړي، چې هر رنګه وي، سر خو ستا مات شو.

په ظهور اسلام کې چې کومه خبره شوې ده، هغه د «القاء» له ډوله ده، نه د وحي او الهام له ډوله. القاء هر شخص ته کېدی شي، حال دا چې وحي او الهام مازې تر انبیاء کرامو پورې مخصوص دی. «رب مې راته الهام وکړ» یوازې پیغمبر ویلای شي، خو دا ویل چې د هر شخص لپاره روا ده چې «ذهن ته مې راغلل.»



ketabton.com - The Digital Library

# د خدای لویوالي د هغوی خولې تړلې دي

«عن عُقبةَ بِن عامرٍ قال لقيتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم فقلت ما النجاةُ؟ فقال: اَمِلک علیک لسانَک وَلیَسعَکَ بَیتُکَ وَابکِ علی خطیئتک.»

ژباړه: عقبة بن عامر له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې نجات په څه کې دی؟ رسول الله وفرمایل: خپله ژبه دې په واک کې ولره، په کور ناست اوسه او په خپلو تېروتنو اوښکې توی کړه.

خپله ژبه په خپل واک کې لرل، خپله نیږدې دایره د خپل کار ډګر ګڼل او د خپلو «کارنامو» په ځای خپلې نیمګړتیاوې یادول ——— همدا د ایمان نښې دي او همدوی هغه خلک دي چې په اخرت کې د نجات مستحق ګرځي.

وهب بن منبه وايي، چې په وروستي عمر کې چې د عبداللّه بن عباس رض بینایي په کمېدو وه، ما هغه له ځان سره روان کړی و. مسجد حرام ته چې ورسېدو، نو هلته له یوه مجلس نه د شخړې غوندې اوازونه واورېدل شوو. ابن عباس رض وفرمایل، ما دې مجلس ته ور وله. ما هغه مجلس ته ورست.

عبداللّه بن عباس مجلس ته ورغی او سلام یې پرې ووایه. خلکو د ناستې لپاره ورته وویل، خو ده له ناستې ډډه وکړه او ویې ویل: «تاسې خبر نه یاستئ چې د اللّه خاص بندګان هغه دي، چې د اللّه وېرې هغوی غلي کړي دي، حال دا چې نه هغوی عاجز دي، نه ګونګیان دي، بلکې خوله‌ور خلک دي، ژبې ورسره دي او ښه په واک خلک دي. خو د اللّه د لویوالي یاد د هغوی عقلونه ورنه الوځولي دي، او له دې امله یې زړونه مات وي او د هغوی خولې تړلې وي. کله چې هغوی په دې حالت کې پاخه شي، نو په نېکو کارونو کې بیړه کوي، تاسې د هغوی له لارې نه ولې کاږه شوئ؟»

وهب بن منبه وايي، چې له دې وروسته ما دوه کسان هم په دغه ډول په یوه ځای نه دي سره لیدلي.

★★★

## خپلمنځي جګړې مو هلاکت ته وړي

عُقبة بن عامر رضي اللّه عنه وايي، چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په خطبه کې وفرمایل:

انی لستُ اَخشی عَلیکم ان تُشرکوا ولکن اَخشی علیکم الدنیا اَن تنافَسوا فیها وَ تَقتَتِلوا فَتَهلِکوا کما هَلَکَ من کان قبلَکُم. (متفق علیه)

ژباړه: زما اندېښنه دا نه ده، چې له ما وروسته به تاسې شرک وکړئ. زما اندېښنه دا ده ، چې تاسې به د دنیا په ترلاسي پسې شئ او له یو بل سره به سیالي او جګړې کوئ، تر دې چې همداسې به هلاک شئ لکه تېر امتونه چې هلاک شوو.

ketabton.com - The Digital Library

# د حِلف الفضول په باره کې

په لرغوني عرب کې منظم حکومت نه و. زورور به کمزوري ځورول او لوټل. ځینو عیارانو په ګډه دا ژمنه کړې وه چې دوی به د کمزورو ملاتړ کوي او له زورور څخه به د مظلوم حق اخلي. ویل کېږي، چې دغه وخت چې کوم تړون ولیکل شو، په هغه کې یوه جمله داسې وه چې د فضول لفظ په کې راغلی و:

**تُرَدُّ الفضول الی اهلها** (سهیلی، روض الانف)

ژباړه: مال به د هغه خاوند ته ورګرځول کېږي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمر شاوخوا پنځلس کاله و چې د عربو د مشهورې جګړې حربِ فجار (۵۸۱ز) څلورمه او وروستۍ نښته پېښه شوه. په دې جګړه کې یوې خواته کنانه قبایل وو او بلې خواته قیس قبایل، دواړو خواوو ته له زیاتو زیانونو وروسته بلاخره دواړو خواوو سوله وکړه. بیا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تره زبیر بن عبدالمطلب په هڅونه د عبدالله بن جدعان (د قریشو د مشر) په کور کې غونډه وشوه. په دې غونډه کې دا خبره هم تر بحث لاندې راغله چې یو داسې نظم باید جوړ شي، چې په راتلونکي کې په هېواد کې د امن او سولې فضا ته زمینه برابره کړي. بلاخره په دې هوکړه وشوه چې د حلف الفضول تړون چې له لومړنیو معاهدینو وروسته له منځه تللی و، هغه بېرته نوی شي. بنو هاشم، بنو المطلب، بنو اسد، بنو زهره، بنو تمیم لوړه وکړه چې له هېواد نه به بدامني ختموي، د مسافرو حفاظت به کوي، له غریبانو سره به مرسته کوي، مظلومانو ته به د هغوی حق اخلي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم د خپلې کورنۍ له غړو سره په دې تړون کې حاضر و. وروسته د نبوت په زمانه کې یو ځل رسول الله دغه تړون یاد کړ او ویې فرمایل:

«**لقد شهدت مع عمومتی حلفاً فی دار عبدالله بن جدعان ما احب لی به حمر النعم، ولو دعیتُ به فی الاسلام لاجبت.**»

ژباړه: له خپلو ترونو سره مې په یوه تړون کې برخه اخیستې وه. که د هغه تړون په بدل کې سره اوښان هم راکول شوي وای، ما به نه وو منلي. او اوس د اسلام په زمانه کې هم که زه هغه تړون ته وغوښتل شم، نو لبیک به ورته ووایم.

د دې تړون په تړاو دوه خبرې بالکل روښانه دي:



ketabton.com - The Digital Library




۱- حلف الفضول د لاریونونو او ویناوو کوم غورځنګ نه و. یوه عملي برنامه وه چې ځینو سربکف وګړو قسم کړی و او ځان یې دې ته ژمن کړی و، چې د مظلوم مرستې ته به ځان رسوي او حق‌دار ته به د هغه حق اخلي.

۲- نبي کریم صلی الله علیه وسلم په پنځلس کلنۍ کې په دې تړون کې ګډون کړی و. خو له نبوت وروسته چې رسول الله کوم څه خپل هدف وګرځول، هغه دغه یاد تړون نه و. د توحید او اخرت مشن و او هغه څه چې خپل ټول ژوند یې په کې ولګاوه، هغه و خلک له شرک نه اړول او د یوه خدای لمانځونکي ګرځول او د دنیاپرستۍ په ځای د اخرت‌پرستۍ ژوند ته لاره هوارول. رسول الله به په یوه موقع کې دا خبره ارومرو کړې وي چې که نن ورځ هم څوک ما د حلف الفضول په څېر کار ته وغواړي، نو زه به لبیک ورته ووایم. خو دغه کار یې د بل لوري په غوښتنه پورې مشروط کړ. پخپله یې دغه کار خپل هدف ونه ګرځاوه. د دې وجه دا وه چې د حلف الفضول غوندې کار حیثیت که هر څومره ډېر شي، بیاهم د دنیوي فلاح برنامه ده. حال دا چې پیغمبر د دې لپاره راځي چې خلکو ته د اخروي فلاح لاره ونښيي. بله دا چې پخپله دنیوي اخلاقیات هم په حقیقي معنا کې د خدای له وېرې پیدا کېدی شي، نه د خدای له وېرې په ازاد ژوند کې.

# د خدای وېره د حکمت خزانه ده

**قرآن** إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء (فاطر)

ژباړه: حقه خبره دا ده چې الله نه یوازې د هغه پوهېدونکي بندګان ډارېږي.

**حدیث** رأس الحکمة مخافة الله.

ژباړه: د پوهې هسکه څوکه د الله وېره ده.

**بائبل** مخافة الرب رأس المعرفة. (مثال ۱: ۷)

ژباړه: د خدای وېره د علم پیل دی.

THE FEAR OF GHE LORD IS THE BEGINNING OF KNOWLEDGE.

د خدای وېره په ساده معنا کې مازې «ډار» نه دی، د حقیقت تر ټولو غوره موندنه ده. د خدای وېره په انسان د عقل او دانش دروازې وازوي. دا یوه ثابته شوې ارواييي پېښه ده چې د وېرې احساسات د بنده درون راوېښوي،

ketabton.com - The Digital Library

حال دا چې د اطمینان او قناعت احساسات د انسان درون په خوب اړوي. انسان چې کله خپل ځان د وېرې په حالت کې محسوسوي، نو فکري ځواکونه يې په لا ډېره ژورتيا سره په عمل راځي او چې کله خپل ځان بې خطره محسوسوي، نو ذهن يې پڅېږي، سترګو ته پراته حقايق يې هم سترګو ته پيکه کېږي. د وېرې له لاسه د مستقبل په باره کې د فکر کولو ذهنيت پيدا کېږي او د بې خوفي له لاسه په حال کې د محويت ذهنيت.

مشهور بزرګ شبلي رح وايي، «زه چې کله له الله نه وېرېدلی يم، نو په ما د حکمت او عبرت داسې دروازه واږه شوې ده، چې له هغه نه مخکې زما لپاره نه وه وازه شوې.» بې له وېرې په انسان کې رښتونې دينداري نه شي تړوکېدی. حسن بصري رح فرمايي: عالم هغه دی چې بې له ليدو له خدای نه وېدار شي، هماغه شی خوښ کړي، چې خدای ته خوښ وي او له هغه شي سره هېڅ دلچسپي ونه لري، چې الله ته ناخوښ وي. «**العالم من خشی الرحمن بالغيب و رغب فيما رغب الله فيه و زهد فيما سخط الله فيه** (تفسير ابن کثير)»

د ځينو په نزد اسلام يوه عملياتي نسخه ده، له خپل ژوند سره د اسلام عملياتي نسخه يو ځای کړئ او سيده جنت ته ورسېږئ. ځينې تړوله معامله د بزرګانو معامله ګڼي، ياني د يوه ژوندي يا مړه بزرګ لمنه در تم کړئ او د هغه له برکته د دواړو جهانونو برکتونه در تړول کړئ. ځينې خلک شته چې له ښه بخته يې له دې نه هم کاميابه طريقه موندلې ده، بس پرتمينې ويناوې وکړئ او له هغه وروسته په دنيا کې رهبري کوئ او په اخرت کې جنت الفردوس.

په ياد ولرئ. جنت له دې نه ډېر قيمتي دی چې په دغسې ارزانه سکّو دې واخيستل شي.

هېڅ څوک به داسې ونه کړي چې له خپل زوی نه د «کامياب ډاکټر» جوړولو لپاره په هغه عملياتي تمرينونه وکړي. يا په خپل زوی د کوم رسېدلي بزرګ بيعت وکړي او د هغه د برکت په بروسه باندې کېني. يا د «ډاکټرانو کانفرانس» په تالار کې خپل زوی ته امبل ور واغوندي او په دې ګومان کېني چې ګواکې د زوی لپاره يې د کلينيک د پرانيستو غمه خوړلې ده. خو عجيبه خبره ده چې د اسلام په باره کې خلکو د همدغسې ارزانه نسخو په هيلو عاليشانه مانۍ ودانې کړې دي.

حقيقت دا دی چې اخرت د هماغسې فعاليتونو يو خورا عالي ډګر دی چې يوه اسفله نمونه يې موږ په همدې دنيا کې ګورو. نن ورځ په دنيا کې يو مقام هماغه چاته ورکول کېږي، چې په ځان کې د هغه مقام قابليت پيدا کړي. دغه راز د اخرت منصبونو او مقاماتو ته به هم هماغه خلک رسېږي، چې ځان يې د هغو لپاره وړ ثابت کړی وي:

**قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا. وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا.** (شمس)

ژباړه: بريالی شو هغه څوک چې خپل ځان يې پاک کړ او نامراد شو هغه چې له خاورو سره يې يو کړ.

ثمود قوم ته يوه اوښه ورالندې شوه. هغوی وغوښتل چې دا اوښه هلاکه کړي. پيغمبر يې هغوی اګاه کړل چې دا مازې د «اوښې» معامله مه ګڼئ، بلکې دا خو يوه خدايي معامله ده. خو هغوی په دې خبره پوه نه شول. هغوی د خدايي نښانو د ليدلو لپاره خپلې سترګې ړندې کړې وې. هغوی «اوښه» ليدله. خو خدای يې ونه ليده. هغوی په اوښې ورغلل او ويې وژله. هغوی په دې فکر وو، چې په دې سره ګواکې د ځان لپاره د برتري او زړورتيا لقب اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

حال دا چې په دې کار هغوی د خپل ړوندوالي ثبوت وړاندې کاوه. له هغوی هېره وه چې د اخرت دنیا د هغو خلکو لپاره ده چې له «اوښې» نه تېر شي او د خدای د لیدلو استعداد ولري. هغوی چې اوښه په نظر ورشي، خو خدای په نظر ور نه شي، هغوی د خدای په نزد ړانده دي او په همدې حال کې به په راتلونکې دنیا کې راپورته کړای شي.


په قرآن کریم کې ارشاد دی:

«او څوک چې زما له ذکره مخ واړوي، دهغه دپاره تنګ ژوند دی او د قیامت په ورځ به یې ړوند راپاڅوو. بیا به وایي زما ربه ولې دې ړوند راپاڅولم زه خو سترګور وم. الله به وفرمايي: همدغه شان زموږ نښانې تاته راغلې وې، خو تا یې هېڅ خیال ونه کړ، نو همدغه شان به نن ستا هم هېڅ خیال ونه شي.» (طه)

هغه خلک چې په دنیا کې یې د «ړوندوالي» ثبوت ورکړی وي، هغوی په اخرت کې د «بينايي» مناصبو ته څنګه هسکېدلی شي؟

★★★

# په دې منطق خو تاسې هره خبره ثابتوی شئ



زیګمنډ فرویډ (۱۹۳۹- ۱۸۵۶) د ارواپوهنې لوی عالم دی. د ده نظریه وه، چې خوب له انساني ذهن نه دباندې کوم ماخذ نه لري، او ډېری وختونه د انسان د ځپل شویو هیلو (Repressed Wish) د پوره کېدو تمثیل وي. هغه ارزوګانې چې انسان یې په پوره کولو نه وي توانېدلی، په خوب کې یې د پوره کېدو په حال کې ګوري او تسکین پرې ترلاسه کوي. ده د خپل لیدلوري د ثابتولو لپاره ګڼ شمېر کتابونه هم لیکلي دي، له هغې ډلې نه د ده په نزد تر ټولو مهم کتاب هغه و، چې نوم یې دی:

**د خوبونو تعبیر ( THE INTERPRETATIONS OF DREAMS)**

په دې کتاب کې نوموړي ګڼ شمېر خوبونه راټول کړي او د خپل لیدلوري مطابق یې د هغو تعبیر کړی دی.

د فرویډ دغه کتاب اول ځل په جرمني ژبه کې یوازې ۶۰۰ ټوکه چاپ شوی و. خو په خرڅلاو باندې یې اته کاله تېر شول. سره له دې چې وروسته د فرویډ نظریاتو کافي شهرت پیدا کړ، خو د ده د مقبولیت کلونه ډېر کم وو، ځکه ډېر ژر د ارواپوهنې څېړونکو د نوموړي نظریات تر ډېرو سختو تنقیدونو لاندې ونیول.

ketabton.com - The Digital Library

ځیني داسې خوبونه خو ارومرو شته چې فروید په ډېر بریالیتوب سره د خپلې نظریې له مخې ثابت کړي دي. مګر د زیاترو خوبونو تعبیرونه یې مازې بې ګټې تاویلونه معلومېږي. مثلاً په یوه خوب کې یو ځوان ډاکټر د شپې ګوري، چې د مالیې حساب یې غلط وړاندې کړی دی او په پایله کې یې ډاکټر ته سزا ورکول کېږي. فروید وایي، چې دې ځوان غوښتل، چې یو ښه شتمن ډاکټر شي. د ډاکټر همدغه پټه هیله وه چې په پاسني خوب کې یې تسکین موندلی دی. ـــــــــ خو که دغه ډول استدلال سم وي، نو د تعبیرونو بله تر دې مختلفه نظریه هم په همدومره بریالیتوب سره په ثبوت رسول کېدی شي.

خو په دې کتاب کې یوه بله خبره ده، چې له دې نه هم ډېره دلچسپه ده. فروید په خپلې ټولې ځیرکتیا سربېره ګڼ خوبونه د خپلې نظریې مطابق ثابت نه شوی کړای، نو په دې ډول پېښو کې ده یو بل منطق راوایست:

«دا خوبونه زما د مخالفینو د هغې پټې هیلې نتیجه ده، چې هغوی زما نظریه غلطه ثابته کړای شي.»

یوه کس فروید ته خپل خوب بیان کړ. دغه کس وکیل و. هغه په خوب کې لیدلي و، چې د قضیې ټولې دوسیې یې ورکې شوې دي. فروید د خپلې نظریې له مخې د دې خوب کوم ډاډمن تعبیر ونه شو کړای. وروسته ده په خپل کتاب کې ولیکل چې اصلي خبره دا ده چې خوب لیدونکی شخص د مکتب د زدکړو په زمانه کې اته کاله زما ملګری و. په دې زمانه کې به فروید تل په لومړي مقام کې راته او د یاد کس نتیجه به همېشه د اوسط درجې وه. د فروید په نزد له هماغه وخت نه د دې سړي په زړه کې دا هیله پټه وه چې فروید کومه ورځ کم راولي. خو عملاً دی په دې کار ونه توانېده، نو اوس د ده لاشعور پاسنی خوب ولیده او په دې ډول یې دا تسکین حاصل کړ، چې فروید یې لږ تر لږه د هغه د خوبونو د نظریې په برخه کې غلط ثابت کړی دی.

د فروید د تعبیر په دغه روش باندې یوه ارواپوه تبصره کړې ده چې:

په دغه ډول منطق خو به ارومرو ټول خوبونه د فروید له نظریې سره اړخ لګوي.

د منطق دغه ډول یوازې تر فروید پورې محدود نه دی، بلکې ډېر زیات عام دی. ان هغه خلک هم دغه منطق د ځان لپاره یوه ګرانبیه علمي وسله ګڼي، چې له فروید سره «مخالفت» لري. د دې کرښو لیکوال هم څو څو ځله له دغه ډول منطق سره مخ شوی دی ـــــ لیکوال د یو چا په لیدلوري علمي تنقید وکړ. د نوموړي شخص پوره حق و، چې د لیکوال خبره په دلیل رد کړي. خو هغه داسې ونه کړل، بلکې ویې لیکل: دا چې تاسې له لیکوال سره «ضد» لرئ، نو ځکه تاسې د هغه په خلاف تنقید کوئ. یوه مشر عالم یو ځل ولیکل: «ستاسې په زړه کې زما په خلاف د ضد او کرکې کیفیت پیدا شوی دی، ځکه تاسې ته زما خبره غلطه ښکاري.»

که له انسان سره د خپل لیدلوري د ثبوت لپاره دلیل نه وي، نو دغه منطق د هغه لپاره بهترینه کلا ده چې پناه ورته وړلی شي. سره له دې چې له خپلې ټولې ښکلا او تقدس سره، سره دا یوه داسې کلا ده چې د انسان په خپل ذهن کې وي او که ډېره شي، نو د معتقدینو په ذهن کې به یې وي. له هغه دباندې دغه مضبوطه کلا هېڅ ځای وجود نه لري.

★★★

ketabton.com - The Digital Library

# ایمان یوه غذا ده!

د غذا مطلب دا نه دی چې انسان دې خولې ته یو شی اچولی وي او ژووي دې یې. غذا هغه ده چې د انسان غوښه او وینه شي او د هغه د ځواک او ژواک ذریعه وګرځي. همدا معامله د اسلام هم ده. د مسلمان لپاره د مسلماني نښه مازې ظاهري اعمال نه دي. نه دا ده چې په اسلامي ویناوو او لیکنو کې دې کمال ښکاره کړي. اللّٰه ته مطلوب انسان هغه دی چې اعمال یې په سینه کې خاشع زړه وروزي. خو که د دې بالعکس په ظاهره خو د اسلامي اعمالو غور او پُر وي، مګر د انسان په سینه کې یو سخت زړه د نمو په حال کې وي، نو د دنیاوالو په سترګو کې یې چې هر څومره ارزښت وي، د اللّٰه په نزد د داسې اسلام هېڅ قیمت نشته.

د زړه سختي دا ده چې د انسان له زړه نه نرمي وتلې وي. د رښتینولۍ په وړاندې سر ټیټولو ته تیار نه وي. یوه معامله چې وریېښه شي، نو دی داسې رویه ور خپله کړي، ګواکې په سینه کې یې زړه نشته کاڼی دی (بقره: ۷۴) د انسان له زړه نه لطیف احساسات داسې ورژېږي چې کله یې شیطان زړه کې کومه خبره واچوي، نو هغه ونه شي پېژندلی او د شیطاني لمسونو په لومه کې وغورځي (حج: ۵۳) بنده د خدای نښې وګوري، د حق دلایل یې مخې راشي، خو دا شیان یې په زړه اغیز ونه شیندي، ژوند یې د خدای له یاد نه پرته تېر شي. (زمر: ۲۲) حقایق له پامه وغورځوي او په خوشباوریو د خپل ژوند بنیاد ودروي. (حدید: ۱۶)

ketabton.com - The Digital Library

# د اسلام دعوتي تګلاره

په قرآن کريم کې ارشاد دی:

**شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ.** (**شورى: ١٣**)

ژباړه: تاسو ته يې هماغه دين ټاکلی (بيان کړی) چې په هغه سره يې نوح ته سپارښتن کړی و او هغه چې تاته مو وحي کړی او چې په هغه سره موږ ابراهيم، موسی او عيسی ته سپارښتن کړی و، چې (همدغه) دين قايم کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ. مشرکانو باندې هغه خبره ډېره درنه ده چې ته يې وربلې. ځوک چې الله يې وغواړي خپل لور ته يې غوره کوي او خپل لور ته يې هدايت کوي ځوک چې هغه ته ورګرځي.

په دې آيت کې الفاظ دا نه دي چې «دين قايم کړئ، باطل مه قايموئ» بلکې فرمايلي يې دي چې «دين قايم کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ.» د کوم حالت د غوره کولو امر چې شوی او له کوم حالت نه چې منع شوې ده، دواړه د ايت په ټکو کې پخپله په دين پورې تړلي حالتونه دي. او له دې دواړو حالتونو څخه د يوه ديني حالت د پرېښودو او د بل ديني حالت د غوره کولو امر شوی دی. ګواکې په دې آيت کې چې کوم حکم شوی دی هغه د باطل د اقامت په مقابل کې د دين د اقامت حکم نه دی، بلکې په دين کې د تفرقې اچولو په مقابل کې د دين د اقامت حکم دی.

مفسرينو ليکلي دي چې په دې آيت کې له دين نه مراد صرف اساسي دين دی. ځکه اساسي دين د ټولو انبياوو په منځ کې مشترک و او په همدې کې د ټولو مشترکه پيروي هم کېدی شي. د شريعت تفصيلات (**لکل جعلنا منکم شرعة و منهاجا**) د قرآن کريم د صراحت له مخې د ټولو انبياوو په منځ کې مختلف وو. د همدې لپاره په تفصيلي شريعت کې په يوه وخت کې د ټولو نبيانو پيروي ممکنه نه ده.

په تفصيلي شريعت کې چې د نبيانو ترمنځ کوم فرق و، هغه د ارتقايي تشريع په بنياد نه و. [ياني دغه فرق له دې څخه نه و ايجاد شوی چې ګواکې شريعت له وخت سره ارتقا کړې ده؛ ژ] بلکې فرق د حالاتو او دعوتي مراحلو په اساس و. دغه فرق د بېلابېلو اسلامي ډلو ترمنځ نن هم شته او همېشه به پاتې وي. دا خبره په نورو ټکو کې داسې کولی شو، چې د دين دوه برخې دي. يوه هغه چې د تل لپاره په يوه حالت کې مطلوبه ده. بله برخه هغه ده چې د حالاتو تابع وي. اوله برخه يې په اساسي لارښوونو پورې تعلق نيسي او په قرآن کريم کې **الدين** (شورى) ورته ويل شوې دي. دوهمه حصه يې د **شرعة** او **منهاج** (مائده ۴۸) ده. ياني فرعي قوانين او تګلارې. د دين لومړنۍ برخه په قرآن کريم کې په **سبيل** (لاره) تعبير شوې ده او د دين دوهمې برخې ته **سُبُل** (لارې) ويل شوې دي. د دې وجه دا ده چې لومړنۍ برخه د همېشه لپاره يوه ده، د هرې زماني لپاره يکې يوازنۍ شاهراه ده. خو د دين د دوهمې برخې تعلق په حالاتو پورې دی او په هغه کې له يوې نه د ډېرو صورتونو ګنجايش پاتې کېږي. حکم دا دی چې د دعوت

ketabton.com - The Digital Library

او اقامت لپاره **الدين** خپله موضوع وگرځوئ، **متفرق سُبُل** خپل هدف مه ټاکئ. د **متفق عليه دين** په قايمولو کې لگيا شئ، د **مختلف فيه دين** په شا نيولو سره ځان په برخو، برخو مه وېشئ.

په قرآن کريم په بېلابېلو مقاماتو کې مؤمنانو ته په خطاب کې ويل شوي دي، چې الله تعالی ستاسې لپاره د عمل يوه شاهراه ټاکلې ده، په هماغې ټينگ پاتې شئ، په اخوا دېخوا لارو مه ځئ، که نه وي اصلي شاهراه به له لاسه ورکړئ. دغه شاهراه په قرآن کريم کې په **دين قيم** (**بينة**)، **حبل الله** (**آل عمران**)، **سواء السبيل** (**مائده**) او **صراط مستقيم** (**انعام**) او داسې نورو ټکو تعبير شوې ده. د انعام سورې په ۱۹مه رکوع کې په څو بنيادي شيانو باندې له امر کولو وروسته ارشاد دی:

**وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلاَ تَتَّبِعُواْ السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.** (**انعام: ۱۵۳**)

ژباړه: او دا چې دا زما نېغه سمه لار ده نو متابعت يې وکړئ او په نورو لارو پسې مه ځئ چې بيا به مو د هغه له لارې خواره واره کړي، په همدې يې تاسو ته حکم کړی چې ځان (له بې لارۍ) وساتئ.

په دې آيت کې متفرقې لارې (سُبل) نه مراد د کفر او شرک لارې نه دي، بلکې هغه لارې دي چې په دين کې د دين په نوم راويستل کېږي (**قال مجاهد السبل البدع، قرطبي**) الله تعالی ته له خپلو بندگانو نه چې کوم څه مطلوب دي، هغه په قرآن کريم کې په واضحو ټکو کې بيان شوي دي. دغه قرآني لارښوونې په عملي ژوند کې څه ډول شکل مومي، د هغه واضحه نمونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابوو رض په ژوند کې موجوده ده. انسان ته بويه چې د عقيدې او عمل له پلوه په همدغه ثابت شوي **الدين** ټينگ پاتې شي. له هغه ور اخوا په دين کې داسې خبرې راويستل چې له قرآن او سنت څخه بې له اختلافه ثابتې نه وي، په اخوا دېخوا لارو باندې کوږوالی دی، چې بنده له اصلي خدايي لارې څخه بلې خواته اړوي. په خپل ځان کې خو بنده فکر کوي، چې په دين باندې ولاړ دی، حال دا چې له اصلي خدايي دين سره يې هېڅ تعلق هم نه وي.

## د دين او شريعت فرق

الدين څه دی؟ توحيد دی. يانې يکې يو ذات خالق او مالک منل، همدغه ذات د خپلو ټولو توجهاتو مرکز او محور گرځول، همدغه ذات خپل هر څه گڼل، د هماغه په وړاندې خپل ځان غورځول. همدا د دين اصلي څوکه ده. د دغې څوکې لاسته راتلل، د هر څه لاسته راتلل دي. خو که دا له گوتو ووځي، نو هېڅ شی هم انسان ته نه ور پاتې کېږي. فرق نه کوي چې په ظاهر او د خبرو په سطحه کې يې خپل ځان هر څومره ديندراه ثابت کړی وي. په قرآن کريم کې چې د دين د اقامت کوم حکم راغلی دی، هغه په همدې الدين پورې اړوند دی. د شوری سورې په دې آيت کې د دين له اقامت نه مراد په اصل کې د توحيد اقامت دی. يانې بنده په حقيقي معنا کې له خدای سره وصل کول. له بنده نه د **وحده لاشريک** رښتونی لمانځونکی جوړول. که کومه ډله د عبادت په جزوي او اختلافي مسايلو کې فقهي نزاع راپورته کړي يا د دين د قايمولو په نوم له واکمنې ډلې سره سياسي مبارزې پيل کړي، نو دا به د دين اقامت نه وي، بلکې د قرآن کريم په ټکو کې د متفرقو لارو (سُبل) اتباع به وي، چې په دين کې قطعاً ممنوع ده. په دغه ډول فرعي او اختلافي امورو کې معرکې راتودول د امت وحدت له منځه وړي. امت چې په ډلو، ډلو ووېشل

ketabton.com - The Digital Library

شي، نو د الله له اجتماعي نصرت نه محرومېږي. د دين اقامت د متفق عليه مسئلې لپاره د جد و جهد کولو نوم دی، نه د مختلف فيه مسايلو په سر د مسلمانانو په منځ کې د جدال او نزاع د برپا کولو.

سره له دې چې له الدين نه اصلاً مراد توحيد دی، خو تر دغه عنوان لاندې ټول هغه مسايل پخپله شاملېږي، چې د قرآن او سنت مطابق متفق عليه دي او هغه چې له يوې نه د ډېرو رايو گنجايش په کې نه وي.

مثلاً د خدای وجود، د هغه وحدانيت، يا د هغه ربوبيت چې د خلکو مخې ته کېښودل شي، نو په دې سره په امت کې اختلاف نه واقع کېږي. ځکه دا عقايد په محکمو آياتونو او حديثونو ثابت دي. خو که دا ډول بحثونه راوايستل شي، چې خدای جسم لري يا نه. د خدای عرش چېرته قايم دی. ايا خدای د ځان غوندې د خدای په پيدا کولو قادر دی يا نه دی. او داسې نور. نو په دې شيانو کې هېڅ کله د ټول امت يوه رايه نه شي کېدی. ځکه دا ټول شيان د استنباطي نوعيت دي. په دغو مسايلو کې د غور او فکر کولو پايله به دا وي، چې د يوه کس استنباط به هغه يوه نظر ته ورسوي، د بل سړي استنباط بل نظر ته. په دې ډول به مختلف تعبيرونه رامنځته شي. د هر تعبير په شاوخوا کې به د مؤمنانو يوه ډله راټوله شي، يو دين به په څو دينونو ووېشل شي. خو که د لومړی ډلې د معتقداتو تلقين وشي، نو دا به د دين اقامت وي. او که د دوهمې ډلې غوندې اعتقادي موشگافی راواخيستل شي، نو دا به د قرآن کريم په ټکو کې **تفرق في الدين** وي. اولنی شی مطلوب دی او دوهم شی نامطلوب.

همدغه خبره د هغو چارو هم ده، چې عبادات ورته ويل شوي دي. مثلاً د لمانځه لپاره د اوداسه لازموالی يوه متفق عليه مسئله ده. خو د اوداسه د ارکانو او شروطو په باره کې له يوې نه ډېرې رايې دي. د سننو او مستحباتو شمېر خو يوه خوا، پخپله د اوداسه د فرايضو په شمېر کې هم ټول فقها په يوه نظر نه دي. د حنفيانو په نزد د اوداسه فرايض څلور دي، د مالکيانو په نزد اووه، د شافعيانو او حنبليانو په نزد شپږ (**الفقه على المذاهب الاربعه**). نو اوس که په دغو اختلافي چارو کې د شمېر تعين د بحث او مباحثې موضوع وگرځول شي، نو دا چې اصل مسئله استنباطي ده، نو هېڅ کله داسې نه شي کېدی، چې په دې مسئله کې د شمېر په اړه د ټولو رايې سره يو شي. دغه ډول هڅې په عمل کې مازې د اختلاف او انتشار د پيدا کېدو سبب گرځي. د همدې لپاره امر شوی دی چې اتفاقي چارې د دعوت مدار وگرځوئ، اختلافي چارې د دعوت مدار مه گرځوئ.

همدغه معامله د اسلامي سياست هم ده. که يو شخص داسې وکړي، چې د خپلو حاکمانو د اصلاح لپاره له الله نه دعا وغواړي، له هغوی سره انفرادي ملاقات وکړي او هغوی ته د خدای‌پرستي او اخرت‌پرستي تلقين وکړي، د سنجيده طرز په ليک او وينا کې د اسلامي سياست اړخونه ورته روښانه کړي، نو په دې سره به په امت کې کوم تفريق رامنځته نه شي. خو که ځينې خلک د لاريونونو او غوښتنو له توغ سره راپورته شي او له سياسي مورچل نه د حاکمانو د بې اقتداره کولو لپاره حرکت رامنځته کړي، نو په پايله کې به يې خامخا امت په ډلو، ډلو وېشل کېږي. يوه ډله به د واکمنو په خوا وي، بله ډله به د واکمنو د بې اقتداره کوونکو په خوا. په دې ډول به امت په دوو جبهو مات شي او له يو بله سره به جگړو ته متې ور ونغاړي. او د دين د اقامت په نوم به تفرق في الدين رامنځته شي.

د اوداسه په ادابو او قواعدو کې د «شمېر» مسئله يوه استنباطي مسئله ده. همدا وجه ده چې په تعين کې يې هم د علماوو څو رايې شوې دي. همدا کيفيت د اسلامي امت د سياسي مشن هم ده. دا هم په ټوله کې يوه استنباطي معامله ده، ځکه په قرآن او حديث کې هېڅ داسې نص نشته چې د سياسي مشن نوعيت دې په صراحت

ketabton.com - The Digital Library

سره بیان کړي. د همدې پایله ده چې په دې برخه کې د علماوو په رایو کې تعدد مونډل کېږي. په اوسنۍ زمانه کې د یوې ډلې ټینګار دی چې د اسلامي امت اصلي هدف دا دی چې د اسلامي حکومت د قیام لپاره جد و جهد وشي. د بلې ډلې رایه دا ده چې حکومت یو موعود امر (ژمنه شوې چاره) ده. یانې حکومت د الله له لوري د انعام په حیث ورکول کېږي، نه دا چې حکومت هدف وګرځول شي او د ترلاسي لپاره یې مستقیمې هڅې وشي. یوه بله طبقه بیا وایي، چې اصلي کار د ټولنې اصلاح ده، نه د حکومت اصلاح. که ټولنه اصلاح شي، نو صالح حکومت به پخپله رامنځته شي. د دغو نظري اختلافاتو علاوه د حکومت معامله یوه داسې معامله ده چې نور شدید عملي نزاکتونه هم په کې شامل دي.

هر کله چې دا هڅه کېږي، چې واکمنه ډله له واک څخه وپرځول شي، نو خامخا به واکمنه ډله خپل واک و ځواک د سیاسي مخالفینو په ضد کاروي. په پایله کې به یې په مسلمانانو کې خپلمنځي وینې او وژنې رامنځته کېږي او «اقامت د دین» به په عمل کې په تفریق في الدین پای مومي. د شریعت یوه داسې معامله چې په هغې کې له یوې نه د زیاتو رایو ګنجایش وي، په هغه کې دا هڅه چې ټول خلک د یوه بیرغ لاندې سره یو موټی کړای شي، ارومرو دا پایله زېږوي چې څو بیرغونه رامنځته شي. د همدې لپاره د همېشه لپاره امر شوی دی چې اختلافي امور د غورځنګ محور مه ګرځوئ، صرف په اتفاقي چارو باندې د خپلو حرکتونو بنیاد ودروئ.

د همدې اسبابو له مخې موږ ګورو، چې له اولني دور وروسته خلافت، په ملوکیت باندې بدل شو او تر زرو کلونو پورې یې دوام وکړ، خو د امت اصلاح غوښتونکو هېڅ کله د هغه په خلاف خروج نه دی کړی. هغوی واکمنو ته انفرادي نصیحتونه وکړل، خو له اقتدار نه د پرځولو لپاره یې هېڅ حرکت نه دی کړی. دا خو د همدې اوسني عصر د وسلهوالو غورځنګونو پېرزوینه ده، چې په مسلمانانو کې داسې خلک پیدا شوي دي چې سیاسي انقلاب د اسلامي امت د اصلي مشن په توګه معرفي کوي. په پایله کې یې په هر اسلامي هېواد کې مسلمانان په دوو جبهو وېشلي دي. یوه واکمنه ډله. بله د همدغو مخالفو انقلابیانو ډله. د دواړو مسلمانو ډلو ترمنځ ناپایه سیاسي جګړه روانه ده، چې د کر او بشر (بقره: ۲۰۵) له هلاکت پرته مسلمانانو ته بله هېڅ ډالۍ نه ورکوي. او دا ټول روان دي، د دین د اقامت په نوم.

د سیاسي مشن د نوعیت په باره کې د امت د علماوو ترمنځ د ګڼو رایو شتون پخپله د دې ثبوت دی چې د سیاسي غورځنګونو مسئله د متفرقو لارو «سُبل» د موضوع مسئله ده، نه د «الدین» تر سرلیک لاندې مسئله. د همدې لپاره د یوه اصلاح غوښتونکي لپاره دا خو درسته ده چې کله په مسلمانانو حاکمانو کې انحراف وویني، نو د نصیحت په ژبه کې د ځان د اصلاح تلقین ورته وکړي. خو د دین د اقامت په نوم له واکمنو سره سیاسي نښتې کول د الله له کتاب نه د انحراف په معنا دی. دا د متفرقه سُبل اتباع ده، نه په حقیقي معنا کې د دین اقامت.

د دې وېش معنا دا هم نه ده چې په دین کې یوازې کلیات مطلوب دي، جزئیات مطلوب نه دي. بلکې هدف یې یوازې دا دی چې په دین کې د حقیقي مطلوب او نسبي مطلوب ترمنځ فرق شته او دغه فرق باید په پام کې ونیول شي. په حقیقي برخه کې تاکید او تشدید پکار دی او په نسبي اجزاوو کې د توسع او رواداري تګلاره باید خپله شي.

په دې خبره به په یوه مثال کې ځان پوه کړو. د خوړو په برخه کې یوه مسئله دا ده چې د حرام او حلال ترمنځ فرق وشي. یوازې حلال شیان خپل خواړه وګرځول شي او حرام شی له ستوني ښکته نه شي. بله د خوړو د ادابو

ketabton.com - The Digital Library

مسئله ده. مثلاً په لاس وخوړل شي یا په کاشوغه. په مځکه باندې په ناسته وخوړل شي که په مېز او څوکۍ. چپړکي ورته پښو کړای شي او که پښو لوڅي وخوړل شي. او داسې نور. لومړنۍ مسئله د دین د کلیاتو مسئله ده. الله تعالی د یوه یوه شي نوم اخیستی او په مشخص ډول یې په ګوته کړی دی، چې د بنده لپاره کوم شی روا دی او کوم حرام. خو دا وروستۍ مسئله بیا داسې ده، چې په هغه کې دغسې مشخصه ژبه نه ده کارول شوې. د نبي صلی الله علیه وسلم له اسوې او د صحابه کرامو له ژوند نه په دې تړاو له یوه نه ډېرې نمونې لیدل کېږي. نو په داسې حالت کې که یو شخص د حلال او حرام په هکله منصوص احکام د تاکید او تشدید موضوع وګرځوي، نو په امت کې د ډلبندي نوبت نه راځي. ځکه دا به عملاً په هغو شیانو کې تاکید او تشدید وي، چې د امت د ټولو علماوو په منځ کې له پخوا نه لا متفق علیه مسایل دي. د نظر تر حده پورې په دې برخه کې هېڅ اختلاف نه لیدل کېږي. خو د دې بالعکس که د خوړو ادابو په مسایلو تاکید او تشدید پیل شي، نو د ټول امت په یوه مسلک یوه خوله کېدل به ناشونی وي. مثلاً یو شخص به وایي، چې ډوډۍ ته باید چپړکي وایستل شي، ځکه په حدیث کې راغلي دي، **اخلعوا نعالکم**. خو بل لوري ته یو بل شخص دا هم ویلای شي، چې دا خو د روا او ناروا مسئله نه ده، بلکې د اړتیا معامله ده. په هر ډول چې اساني وي، هماغسې دې وشي. ځکه پوره حدیث داسې دی: **اخلعوا نعالکم فانها اروح لاقدامکم** (خپلې چپړکي وباسئ، ځکه په دې کې مو د پښو لپاره ډېر راحت دی.) د همدې لپاره صحیح طریقه دا ده چې په **کلوا من الطیبات واعملوا صالحا** (**مؤمنون ۵۱**) باندې خو ښه ټینګار وشي، مګر د خوړو د ادابو غوندې شیانو کې د رواداري او توسع طریقه خپله شي ـــــ د اهلِ حدیثو غورځنګ په خپل اصلي او ابتدایي حالت کې د همدې نوم و. خو وروسته یاده ډله په دې مسلک ټینګه پاتې نه شوه. لږ تر لږه د عامو خلکو په سطحه همدا وضعیت دی.

## د دین تکمیل څه دی؟

په اوسنۍ زمانه کې د «بشپړ اسلامي انقلاب» علمبردارانو او د «دین د نیمګړو پیروانو» ترمنځ چې په بېلابېلو هېوادونو کې کوم ټکر روان دی، د هغه بنیاد په اصل کې د «کامل دین» ناسمه نظریه ده. خلک فکر کوي، چې اسلام یو کامل (د تمدني قوانینو له پلوه بشپړ) دین دی، د همدې لپاره د دین د قایمولو مطلب ارومرو همدا دی چې دغه دین د یوه بشپړ تمدني نظام په حیث رامنځته کړای شي. که د کامل دین مطلب دا وي، نو د دې معنا دا ده چې د ابوالانبیاء حضرت ابراهیم علیه السلام دین ناقص و، ځکه دا معلومه ده چې هغه ته تمدني قوانین او مقررات له سره ورکول شوي نه دي او دغه راز نورو اکثریت انبیاوو ته هم. حال دا چې په قرآن کریم کې صراحت دی چې تاته ته هم هماغه دین درکول شوی دی چې نورو انبیاوو ته ورکول شوی و او همدغه دین به قایموئ. (شوری ۱۳)

اصلي خبره دا ده چې دین نوم دی په پوره معنا کې د مؤحد کېدو. د دین بشپړوالی په اصل کې د توحید بشپړوالی دی. یو شخص چې څومره ډېر خپل رب ومومي، هماغومره یې خپل دین کامل کړی دی او چا چې څومره خپل رب کم موندلی وي، هماغومره یې دین ناقص پاتې شو او قانوني مادې که هر څومره زیاتې ولیکل شي، بیا هم دین نه ورسره بشپړېږي. مثلاً که په قرآن کریم کې د اوومې میلادي پېړۍ د دنیا اړوند ټول احکام او ضابطې په تفصیل سره درج شوې وای، نو بیا به هم بې شمېره قانوني خبرې له لیکلو پاتې وې، لکه سمندري

ketabton.com - The Digital Library

قوانين، خلايي ضابطې او داسې نور، ځکه د دغو مسايلو په هغه وخت کې له سره وجود نه وو. حقيقت دا دی چې که له کامل دين نه دا معنا واخيستل شي، نو اسلام به هم يو بشپړ دين ښکاره نه شي.

**لنډيز**

په دين کې اصلي ارزښت د دې دی چې بنده له شرک نه په بشپړ ډول ځان وساتي او يکې يو خدای د خپلې توجه مرکز وګرځوي. له همدې نه ټول ژوند سازېږي. زموږ لپاره اړينه ده چې په همدې باندې تر ټولو ډېر تاکيد وکړو او همدا د دعوت او تبليغ بنياد وګرځوو. له هغه وروسته چې په تفصيلي چارو کې د دين کومې تقاضې مطلوب دي، په هغو کې له حالاتو سره سمه يوه لاره انتخابول اړين دي. خو دغه شيان د دعوتي رسالت په حيث نه شي غوره کېدی. د دغه وروستي نوعيت مسايل چې کله بنده د دعوت مدار ګرځوي، نو ګواکې يوه فرعي مسئله د اساسي مسئلې په ځای ږدي. دغه راز هر عمل د دين نظام درېږ وړې کوي.

تاسې د ځان لپاره يو خاص فقهي مسلک خوښوئ، نو خوښ يې کړئ. خو د دغه مسلک په بنياد جومات او مدرسه مه جوړوئ. تاسې د يوې طريقې تقدس ته قايل ياستئ، نو قايل اوسئ. خو دغه طريقه د نورو د اسلاميت د اندازه کولو لپاره پيمانه مه ګرځوئ. يوه واکمن د «بنيادي جمهوريت» نظام جوړ کړی دی او په مقابل کې يې تاسې ته «ولسي جمهوريت» سم ښکاري، نو د نصيحت په ژبه خپله خبره تر نورو ورسوئ. خو د دې مسئلې په سر له هېواد نه د سياسي غېږنيونې ميدان مه جوړوئ. که تاسې ګورئ، چې د ملت اقتصادي او ټولنيز حقونه مو «تر پښو لاندې» کېږي، نو په خلکو کې دا جذبه راپورته کړئ چې هغوی د ځواک او امانت (قصص ۲٦) له لارې د خپلې ستونزې د حل کولو هڅه وکړي. خو د دغې خبرې په سر له مفروضه ظالمانو سره د لاريونونو او مطالباتو توپان مه راولاړوئ ـــــــ دغه راز هر غورځنګ د دين واحد سبيل پرېښودل او په نورو بېلابېلو لارو تګ کول دي، او دا ډول کوششونه چې په هر څومره له نېک نيت سره وشي، په عمل کې يوازې فساد راولاړوي. دا کار نه يوازې بنده له ربښتوني خدای پرستي لرې کوي، بلکې د دې باعث هم ګرځي چې امت په بېلابېلو ټوليو او ډلګيو ووېشل شي. او د امت ټوټې کېدل الله تعالی ته دومره ناخوښ دي، چې له داسې خلکو نه د الله ټولنيز نصرتونه اخيستل کېږي او تر هغو بېرته نه ورته راځي چې امت خپلې تفرقې ختمې او بېرته واحد امت نه شي.

★

★★

★★★

**پای**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*